# تجهیز د روزنې په پرتله ډېر مهم دی

خای بند دوی د
نکرې مرکه کې
و تجهیزول دي
و برول د تورونو د
چې بوه اوونۍ
ستان کې د ناټو
ستازي سوزنس
روزنه او مشوره
وجبېز، چې په
نکرې مرکه کې
ې پر خای دي
ه میلیارده ډالره
ه، چې د امریکا

په ګمېون د ناټو ځینې غړي هېوادونه په افغان ځواکونو نه تجهیزات برابروي، چې په
دوو کې ځلې کابرې او زره ډلګونه شامل دي. د افغان ځواکونو تسلیول او تجهیز ترڅې
ډېر مهم دي، چې دوی د دغه زړګونه روزنې کې وایي. یوه اوونۍ وروسته چې د ۲۰۱۵
کال د جنورۍ میاشتې په لومړۍ نیټه د افغانستان کې د شوخ ملاتړ په اسوم نوې
ماموریت پیلوي، چې له مخې به یې ۱۲ زره بهرني سرتېري په افغانستان کې پاته کیږي
او افغان ځواکونو ته به روزنه او مشوره ورکوي. د ناټو ملکي استازي وایي، تر اوسه
پرېکړه نه ده شوې، چې نوې ماموریت به یې څو کاله دوام وکړي. د ناټو دغه چارواکي
وایي، په اسولو کې د دوی دغه ماموریت په بشپړه توګه غیر پوځي دی او پاته کېدونکي
عسکر به یې په جګړو کې برخه نه اخلي. خو د ځینو راپورونو په اساس په افغانستان کې
پاتې کېدونکي امریکایي ځواکونه کولای شي، د افغان حکومت په غوښتنه او مشوره په
پوځي عملیاتو کې هم برخه واخلي. د ناټو ملکي استازي په داسې حال کې د افغان
ځواکونو په تجهیزېنګار کوي، چې په دې وروستیو کې د حکومت د وسله والو
مخالفینو فعالیتونه زیات شوي او د کوټو په ...

Ketabton.com

# ۲ وروسته امریکا خپلسري عملیات نه شي کولای

**... چې د امریکا د دفاع وزارت چارواکو ویلي، چې یوازې هغه طالبان به په نښه کوي، چې دوی او افغان ځواکونو ته ګواښ وي**

... له ۲۰۱۳
... ځواکونو د
... ال مخالفین
... چارواکي د
... فینو له په

راډیو ته ویلي: له ۲۰۱۴ کال وروسته امریکا په
افغانستان کې خپل سري عملیات نه شي
کولای. باغلي وزیري زیاته کړه، د افغان
ځواکونو په غوښتنه امریکایي سرتېري په جګړه

ځواکونه عملیات کوي معنی دا چې که له
۲۰۱۴ کال وروسته د بهرنیانو ځواکونه په
افغانستان کې هم وي، که چېرې افغان
ځواکونه ورته ومواړي، دوی به مرسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کورني او بهرني سیاست شننې

## سرمقاله

## د ترهګرۍ او اورپکۍ پرضد د درېدو سخته اړتیا

یوه اوونۍ وړاندې، تېره سې شنبې، په پېښور کې پر یوه ښوونځي اورګرو ډله ییز برید ترسره کړ، چې په ترڅ کې یې څه ناڅه ۱۵۰ کسان ووژل شول، چې له ۱۲۰ ډېر یې د ښوونځي زده کوونکي وو او بریدګر هم له منځه یوړل شول. دا برید لکه په ټول اسمان تندر و او پاکستان د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر د هغه برید غوندې وباله، چې پر امریکا ترسره شو او په کې ناڅه درې زره کسان ووژل شول. د پېښور دا برید افغان حکومت په سختو ټکو سره وغانده، په اصل کې د دغه برید د قربانیانو له کورنیو سره ټول دردمن دي په تېره بیا افغانان، چې د دا ډول ترهګرۍ قربانیان دي. دا برید پر هغه ورځ ترسره کېږي، چې افغان ولسمشر محمد اشرف غني یکشنبه له غني او د دغه ولایت په یحیی خېلو کې د هغه ترهګر برید له قربانیانو سره همدردي وکړي، چې څه موده وړاندې د والیبال پر لوبو وشو او سلګونو کسانو ته یې مرګ ژوبله واړوله. د هغه برید ټول قربانیان ملکي وګړي په تېره بیا ماشومان وو. بل دا چې پر کونړ څه ناڅه درې زره وسله وال پرغل کوي، چې له قبایلي سیمو پېرې را اوښتي دي، اوس د کونړ دانګام له سخت مقاومت سره مخ دي. د پېښور له برید یوه ورځ وروسته د پاکستان د پوځي، استخباراتي او ډیپلوماټیک مشران په ناڅاپي سفر کابل ته راغلل او له ولسمشر محمد اشرف غني او په کابل کې د ناټو له مشت عمومي قوماندان سره یې وکتل. داسې ویل کېږي، چې هغوی داسې مدارک وړاندې کړي، چې ګنې دا برید له افغانستانه پلان شوی، خو داسې نه ده، بلکې افغانستان تر دې معتبر اسناد په لاس کې لري، چې پر افغانستان ټول بریدونه له ډیورنډ کرښې پورې غاړه کې پلانېږي او د حقاني شبکې په خبر د کټو ترهګرو او اورپکو ډلو تر شا پلاپلې شبکې او ډلې ولاړې دي، خو په پېښور کې پر ښوونځي د برید پړه پاکستاني طالبانو پر غاړه اخیستې ده. دا برید ښایي د پاکستان له ډېرو تاریخي پېښو سره هم تړاو ولري، نو پاکستاني چارواکي باید د دغه برید تر شا لاسونه برښنډ کړي لومړي باید پلټنه وشي، چې په هغه ورځ د دغه ښوونځي، چې په کې د پوځیانو زامن پر زده کړو بوخت وو، کوم اداري کسان، ښوونکي او زده کوونکي غیر حاضر وو او اکوم دا ډول کسان او زده کوونکي ناروغان وو او اکوم دا ډول کسان او زده کوونکي د اپنډیکس او یا نورو ورته عادي ناروغیو په پلمه یوه یا دوې ورځې مخکې عملیات شوي وو او آیا دا پلټنې ښایي د برید تر شا د ډېر لاسونه برښنډ کړي. د برید نور اړخونه هم د اندېښنې وړ دي، ځکه سیندیان او بلوڅان عملاً له پنجابه ارادي غواړي او قرباني ورکوي، ځکه د کراچۍ او ګوادر بندرونو د عوایدو غوښه برخه پنجابیان وړي او د بلوچستان پر زېرمو هم له پنجاب سره سخت اختلافونه دي، که دا برید د سپټمبر د یوولسمې غوندې ګڼل کېږي، چې د امریکا په څېر به پاکستان هم ټري پر افغانستان په ځانګړې توګه کونړ د برید پلمه تر لاسه کړي، نو ستره تېروتنه کوي، کونړ د افغانستان لپاره ډېر مهم دی او څوک به اجازه ورنه کړي، چې لاندې یې کړي او په دا ډول پلمو په افغانستان کې نیابتي جګړې روانې وساتي. موږ دا برید چې ترشا یې استخباراتي لاسونه دي په کلکه غندو، خو له پاکستانه غواړو، چې د هغې ترهګرۍ او اورپکۍ پرضد کاموونه پوره کړي، چې په دا ټول بریدونو یې پاکستان، افغانستان، سیمې او نړۍ ته ګواښونه را ولاړ کړي دي

## د افغان حکومت رسمي ویبپاڼو بریدونه د سختې اندېښنې وړ دي

هدایت الله نوري

ریولونه وایي، چې د افغان حکومت ګڼې رسمي ویبپاڼې تر بهرني برغل لاندې دي. د افغان حکومت پر څو ویبپاڼو لکه د بهرنیو چارو، مالیې، پوهنې، سوداګرۍ او صنایعو، عدلیې او د ښځو د چارو وزارتونو پر ویبپاڼو او ان د مخابراتو پر وزارت د انټرنېټي غلو له خوا برغلونه شوي دي. د انټرنېټي امنیت یوه امریکایي اداره وایي چې د افغانستان د حکومت رسمي ویبپاڼې وړانکاري سافټ ویرونه یا مال ویرونه لري. په امریکا کې د معلوماتي ټکنالوژۍ د امنیت یا سایبر سیکورټۍ یوه خپرېزه اداره وایي چې د افغانستان د حکومت په ګڼ شمېر رسمي ویبپاڼو کې یې داسې مضر سافټ ویرونه موندلي چې ښایي سرچینه یې په چین کې وي. «تریټ کونکټ» Threat Connect چې مرکز یې په امریکا کې دی، وایي، د دې ټولنې څېړونکو تېره اوونۍ د افغان حکومت د څو ادارو په رسمي ویبپاڼو کې یو وایرس وهلی فایل وموند. تریټ کونکټ وایي چې افغان حکومت د دغه مضرو سافټ ویرونو د مخنیوي لپاره هېڅ راز انټي وایروس پروګرام نه لري. د دې ټولنې د استخباراتي څېړنو د برخې مشر «رک بارګر» Rich Barger وایي: دا د هغو حملو لړۍ ده چې سږکال یوه بل امنیتي شرکت موندلې او هغه یې د چین د استخباراتو کمپاین وباله. بارګر رویټرز خبري آژانس ته ویلي: د افغان حکومت د رسمي ویبپاڼو له لارې د جاوا سافټ ویر په وسیله وروستۍ حمله د ډسمبر په شپاړسمه په هغه ورځ وشوه چې د چین صدراعظم لي کېچیانګ د افغان حکومت له اجرائیه مشر عبدالله عبدالله سره په ترافستان کې وکتل. ویل کېږي، چې ښایي د چین استخبارات غواړي د افغان حکومت د معتبرو ویبپاڼو له لارې د دې وړانکارو سافټ ویرونو په وسیله پر نړیوالو اهدافو حملې وکړي. د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت هم دا بریدونه تایید کړي دي، دغه وزارت هم پر یو شمېر دولتي ویبپاڼو د انټرنېټي بریدونو خبر ورکړی دی. د دغه وزارت ویاند نصرت الله رحیمي ویلي، چې لوبو نړیوالو هکرانو د تېر ډسمبر پر نولسمه د افغانستان پر مجازي فضاء برید کړی، او هغه یوه دوتنه (فایل) یې ګډوډ کړې، چې د افغانستان د ویبپاڼو د چلولو لپاره ګټه ترې اخیستل کېده. ښاغلي رحیمي وویل: په دغه برید کې د مخابراتو وزارت د معلوماتو مرکز په نښه شوی و، خو د وزارت مسلکي چارواکو په ۲۲ ساعتونو کې د برید مخه ونیوه. د مخابراتو او ټکنالوژۍ وزارت په داسې حال کې د دغه خبر پخلی کوي، چې دغه وزارت په تېرو څه باندې لسو کلونو کې د پام وړ خدمتونه ترسره کړي او لوی بریاوې یې لرلې دي، خو پوښتنه دا ده، چې هغوی ولې وروسته له هغه دا خبر خپور کړ، چې یوه امریکایي انټرنېټي شرکت د افغانستان د مجازي فضاء سیستم کمزوری وباله، او وویل چې هکرانو دغه هېواد د دولتي ویبپاڼو په ګډوډولو سره چلېخ سیستمونه ګډوډ کړي دي. له دې وړاندې دا وزارت ابله خپلې بریاوې ستایلې او خبر خپرت و، خو د افغانستان د مخابراتو او وزارت د معلوماتي ټکنالوژۍ یوه محکنې مامور محمد زبیر ورسحي ویلي، نږدې درې کاله مخکې یې د افغانستان د مجازي فضایي سیستم په امنیت کې د خپلو نیمګړتیاوو په اړه د مخابراتو وزارت ته خبر ورکړی و، چې ان هکرانو له دغو نیمګړتیاوو په ګټې اخیستو سره دولتي سیستمونه ګډوډ کړي دي. خپرونه وایي، چې ښاغلي ورسحي دا هم ویلي، چې په دا ډول بریدونو کې هکران چلېخو سیستمونو (Operating systems) ته ککړې دوتنې (فایلونه)، ورلېږي، چې په مټ یې یا د کاروونکو شخصي معلومات ترلاسه کولی شي. هغه وایي، د افغانستان د مجازي فضاء ټول ورونه پرانېستي دي او دولتي سیستمونه، لکه د وزیرانو کمپیوټرونه، ددوي برېښنالیکونه او د ارګ سولګرونه (کمپیوټرونه)، هم د دغه ډول بریدونو ښکار کېدای شي. پر همدې مهال، د مخابراتو وزارت وایي، د افغانستان د مجازي فضاء د خوندي ساتلو لپاره سلګونه زره ډالر لګول شوي چې دغه هېواد د اړتیا په وخت کې د انټرنېټي بریدونو د مخنیوي لپاره تر خپله وسه له ټکنالوژۍ ګټه اخلي، خو هر ډول برید شنډولی شي. دا ته ستونزه څه ده او څوک د دغو بریدونو د مخنیوي لپاره مامور دي؟ منو، چې په نړۍ کې ستر قدرتونه لکه چین، شمالي کوریا او ان تر دې، چې امریکا هم تر دغو بریدونو لاندې راتلای شي، خو که ستونزه مالومه وي او درې کاله وړاندې د ستونزې په اړه خبرداری ورکول کېږي، خو په اړه اقدام نه کېږي، نو په رښتیا، چې دا د سترې اندېښنې وړ مسئله ده. دا بریدونه د سختې اندېښنې وړ مسئله ده، ښایي د حکومت ګڼ مالومات، ارقام او پټ اسناد د دغو بریدونو ښکار شوي وي، چې جبرانول یې ګران تمامېږي، ښایي په دې کې استخباراتي تاړونه، د امنیت پلانونه او ګڼ نور پلانونه هم شامل وي، که د دغو بریدونو مخنیوی ونه شي، نو ښایي د دولت ګڼ مدارک او اسناد تر برغل لاندې راشي او یا هم غلا شي، دا اسناد ښایي د وړانکارو لاس ته ولوېږي، هغوی، چې افغان ولس یې تر هر راز ترهګر برید لاندې راوستی او په تېره بیا په دې وروستیو کې یې دا ډول بریدونو ته زوروزر کړی دی، نو په کار ده، چې د افغانستان نوي حکومت د سایبر امنیت ته جدي پاملرنه وکړي. په تېره بیا د مخابراتو او ټکنالوژۍ وزارت په دې کې خپل مسوولیت په ښه توګه ترسره کړي.

## له افغانستان سره د نړیوالې ټولنې له پوځي او انکشافي مرستو دې په پوره شفافیت کار واخیستل شي

پرتمین همت یار

داچې له افغانستان سره دغوږ ملاتړ، ترشعار لاندې دناټو په غونډه کې، اوهمدارنګه ترڅنګ یې دافغانستان په اړه دلندن په نړیوال کنفرانس کې مرستندویو هېوادونو له ۲۰۱۴ زېږدیز کال څخه وروسته له افغانستان څخه دامریکې، ناټو او ایساف دځواکونو له وتلو وروسته دخلورو کلونو لپاره له افغانستان سره دمرستندویو هېوادونو دخه دپاسه دوه دېرشو ملیاردو امریکایي ډالرو دپوځي اوپراختیایي مرستو ژمنو دتاره کولو اودوام سره بیا هوکړې وشوې اوداګېره شوه چې د۲۰۱۵ زېږدیز کال له پیل څخه تر ۲۰۲۴ زېږدیز کاله پورې به دېدلون په لسیزه کې دافغانستان دهراړخیز اقتصادي او امنیتي پرمختګ له پاره دنړۍ دمرستندویو هېوادونو مرستې دوام وکړي اوهم په ورسره جوخت هغه اوهاندوشي چې په دغه هېواد افغانستان کې دترهګرو او پرهنوي یورې د ترلو تروریستي ډلو دپلټې شونو حرږي داسې و چې شي چې ترهګر بیا په افغانستان کې سرراپورته نه کړي اوبیا په دغه هېواد کې خالي جوړې نه کړي اوبیا نه دې خلیه دسپتمبر دمیاشتې دیوولسمې پېښې په څېر دنورو بوګنوونکو اوزړه دردوونکو پېښو لامل ونه ګرځي اوبیا نړۍ ونه لړزوي. دلندن اوناټو ددغو دواړو نړیوالو اقتصادي او امنیتي غونډو دبرخه والو مرستندویو هېوادونو او نړیوالو سازمانونو استازو دافغانستان له جمهور رییس محمداشرف غني څخه په کلکه دغه غوښتنه وکړه چې دافغانستان داقتصادي او امنیتي چارو دپرمخ بیولو له پاره دې دنړۍ دمرستندویو هېوادونو دمرستو دلګولو په برخه کې له پوره شفافیت او صداقت څخه کار واخلي او هېڅ ډول سپین سترګو، سرزوروالو، چلرو زورواکانو، لوټمارانو، دقدرت دګډې، او پیسو لېونیانو اوبسامارانوته دې دا اجازه ورنه کړي چې له دې وروسته نه افغانستان سره دنړۍ دمرستندویو

۷مخ

### په افغانستان کې د ایساف ځواکونو مرستیال تورن جنرال کارستن یاکوبسون له دویچه ویلې سره په مرکه کې

## افغانان خپلې لاس ته راوړنې د طالبانو په رژیم نه بدلوي

د ۲۰۱۴م کال د ډسمبر په پای کې د نړیوالو ځواکونو جنګي ماموریت پای ته رسېږي. د ایساف د قوماندان مرستیال، تورن جنرال کارستن یاکوبسون له دویچه ویلې سره په ځانګړې مرکه کې د تېرو ۱۳ کلونو ارزونه وړاندې کړه.

**دویچه ویله:** ښاغلي یاکوبسون! له نن څخه ۱۳ کاله مخکې د طالبانو رژیم د امریکا متحده ایالاتو تر سختو هوایي بمبارۍ وروسته نسکور شو. اوس بیاهم کابو هره ورځ د طالبانو د حملو شاهدان یو. فکر کوئ چې رښتیا هم ناټو به په زړه خپل جنګي ماموریت پای ته رسوي؟

**یاکوبسون:** د ناټو جنګي ماموریت په حقیقت کې په ۲۰۱۳ کال کې تر زیاتې کچې افغان امنیتي ځواکونو ته د امنیتي مسوولیت د انتقال په موده کې وسپارل شو. د افغانستان امنیتي ځواکونو سږ کال د ولسمشرۍ د ټاکنو او د هغو د نتایجو د حسابونو په وخت کې د څه د پاسه ۹۰ سلنه پوځي عملیاتو مشري په غاړه درلوده. په دې برخه کې البته هغوی تر یوې کچې د ناټو له ملاتړ څخه هم برخمن وو، خو وروسته له دې، په دغه مرستې په پوځي سلا مشورو او د افغانستان د امنیتي ارګانونو له مشرۍ څخه ملاتړ پورې محدودې شي. نو زه خوشبین یم چې د افغانستان وسلوال پوځ به داسې وضعیت کې دی چې په خپل هېواد کې امنیتي مسوولیت په غاړه واخلي او د هغه ضمانت وکړي چې دوی به دوو فصلونو کې دغه آزموینه ورکړه. البته موږ په یو نوي ماموریت کې له یوې نوې ننګونې سره دلته پاتې کېږو او له هغوی سره مرسته کوو.

**دویچه ویله:** د ۱۹۸۰مې لسیزې په پای کې کله چې پخواني شوروي اتحاد خپل پوځونه له افغانستان څخه وایستل، د هغه وخت د نجیب الله رژیم وکړای شول چې یواځې دوه درې کاله د یاغیانو په وړاندې مقاومت وکړي. د هغه له نسکورېدو سره په افغانستان کې کورنۍ جګړه پیل شوه؟ عام افغانان اندېښنه لري چې دوه کاله وروسته د ناټو او متحده ایالاتو د ځواکونو له وتلو څخه وروسته به دغه تاریخ بیا تکرار شي. تاسې دغه اندېښنه تر کومه ځایه پر ځای ګڼئ؟

**یاکوبسون:** اوسنی وضعیت له هغه وضعیت سره چې شوروي اتحاد خپل پوځونه وایستل هیڅکله د پرتله کېدو وړ نه دی. په هغه وخت کې چې د شوروي د پوځونو پر ضد مقاومت روان و، په افغانستان کې هغسې یو رژیم واکمن و چې د اشغالي ځواک له خوا قدرت ته رسول شوی و او دغه رژیم به د دې وجه لېنګ پاتې نه شو چې د خلکو لپاره د منلو وړ نه و. دا د کورنۍ جګړې سبب شو. خو نن په بشپړه توګه بل ډول وضعیت لرو.

نړیوالې ټولنې په پوره زیار سره د افغانستان وسلوال پوځ وروزه او هغه یې په وسلو سمبال کړ په نتیجه کې افغان امنیتي ځواکونه وتوانېدل چې له خپلې دیموکراتیکې پروسې سره ملګرتیا وکړي او د یاغیانو د خوښې پر خلاف په پوره بریالیتوب سره د ټاکنو امنیت خوندي وساتي. موږ په همدې تېر دوبي کې د افغانستان په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره له یو منتخب ولسمشر څخه بل منتخب ولسمشر ته د قدرت د لېږد شاهدان وو، که څه هم سرې اوسنۍ ننګونې، وضعیت او پرمختګ ته نظر واچوئ، نو دا په بشپړه توګه د شوروي د ځواکونو له وتلو سره توپیر لري. مهمه دا ده چې اوس موږ د خوا په پرتله په افغانستان کې یو باثباته وضعیت لرو، دلته یو باثباته حکومت شته چې د ودې په حال کې دی او د دې توان لري چې افغانستان په اقتصادي، امنیتي او په سیمه کې د همکارۍ په برخو کې رهبري کړي او بریالیتوب ته یې ورسوي.

**دویچه ویله:** ناټو څرنګه کولای شي چې دغه لاس ته راوړنې چې تاسې یادونه وکړه د عراق په څېر بېرته له خاورو او ایرې سره برابرې نه شي؟

**یاکوبسون:** موږ بریالیتوبونه چې ما تاسې ته یادونه وکړه هغه د حساب وړ ارقام دي. خصوصاً د امنیتي ځواکونو د روزنې او بریالیتوبونو چې شمېر یې ۳۵۰ زرو ته رسېږي. له محسوسونو په ټول هېواد کې په مختلفو برخو کې پرمختګونه لیدل کېږي: د ښوونځیو، تاسیساتو جوړول، د برېښنا غزول او د روغتیایي خدماتو پراختیا.

سربېره پر دې د خلکو د ژوند په سطحه کې هم بدلون راغلی او د مړینې کچه راټیټه شوې ده، څرنګه چې اوسط عمر له ۴۸ څخه اوس ۶۳ ته لوړ شوی دی. دا نه یواځې د روغتیایي خدماتو له پرمختګ څخه بلکه د ژوند د شرایطو له ښه کېدو څخه ښکارندوی کوي. دا ټولې هغه لاس ته راوړنې دي چې په یقین سره افغانان یې نه غواړي چې له خطر سره مخامخ شي. تاسې به ډېر لږ افغانان پیدا کړئ چې د طالبانو د رژیم د اعادې په لټه کې وي. ځکه ټولو هغو خلکو چې د تېر رژیم تر واکمنۍ لاندې ژوند کړی دی، پوهېږي چې په هغه وخت کې څه تېرېدل.

له دې وروسته هم په خپلو برخو کې البته د ناټو مرستو ته اړتیا شته په خاصه توګه د امنیتي ځواکونو د روزنې، سازمان ورکولو، رهبرۍ او د پوځي تجهیزاتو د اکمال په برخو کې. دا ټول د نوي «پرېکړن ملاتړ» ماموریت مهمې دندې دي چې په وزارتونو او د رهبرۍ په نورو ارګانونو کې تر لاس لاندې نیول کېږي.

**دویچه ویله:** ناټو له نوي ماموریت څخه یادونه وکړه. د افغان امنیتي ځواکونو د روزنې په پروسه کې د «داخلي حملو» یا په اصطلاح «د دوست او دښمن نه بېلولو» سره د افغانانو او د هغوی د نړیوالو متحدینو ترمنځ اعتماد ته سخت تاوان ورسید. د بېلګې په توګه څو میاشتې مخکې د کابل په یوې پوځي اکاډمۍ کې یو افغان سرتېري یو امریکایي جنرال ووژه او یو آلماني جنرال یې ټپي کړ. د داسې یو پس منظر په پام کې نیولو سره په نوي «پرېکړن ملاتړ» ماموریت کې څرنګه د اعتماد وړ همکاري ممکنه ده؟

**یاکوبسون:** جنرال هیرولد ګرین چې د اګست په پیل کې موږ له لاسه ورکړ، زما یو شخصي ملګری و. زه د هغه وخت په وضعیت ډېره نه خبر یم. ځکه زه خپله هم په دنده کې وم په ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ کلونو کې رښتیا هم «داخلي حملې» یا «دوست دښمن» نومې بریدونه د اندېښنې وړ موضوع وه. له ۲۰۱۲ کال څخه را په دې خوا موږ په یو ګڼ شمېر تدابیرو لاس پورې کړ. نه یواځې موږ بلکې افغانانو هم دا ډول بریدونه اوس کم شوي دي.

د افغانستان په پوځي اکاډمۍ کې نوموړې پېښه یوه استثناء وه. دا د جون د میاشتې او زما د دندې له پیل څخه را په دې خوا یواځینۍ پېښه ده چې واقع شوه. دا ډول بریدونه البته اصلي ګواښونه نه دي. اصلي ګواښونه چې د انسان زړه پرېښوي، هغه دي چې طالبان یې په پټو سترګو، په قصدي او هدفي توګه پر افغانانو کوي، څرنګه چې په دې تېرو څو ورځو کې موږ شاهدان یو.

**دویچه ویله:** ناټو د افغانستان له پوځي ماموریت څخه د یو بل ماموریت او یا د راتلونکو نړیوالو ماموریتونو لپاره څه درس اخیستی دی؟

**یاکوبسون:** د دې ماموریت مهم اړخ دا دی چې، دوه ماموریتونه هیڅکله یو بل ته ورته نه دي. د نړۍ په مختلفو هېوادونو کې شرایط سره توپیر لري، خو یو مهمه زده کړه له دې ماموریت څخه دا ده چې موږ یو سیستم ته اړتیا لرو چې د هغه په مرسته پرته له جنګ څخه د دې توان ولرو ترڅو په هغو دولتونو کې چې اړتیا لیدله کېږي داسې امنیتي نظام پلي جوړ کړو. د نړیوالو نورمونو او ارزښتونو له تصور سره سمون ولري.

البته حتمي نه ده چې په دې اړه لویدیځه دیموکراسي یې نمونه وي، بلکې هغه باید د بشري بین الدول حقوقو د چوکاټ ټول شرایط مراعات کړي او دا امنیتي ځواکونه په داسې ډول وروزل شي، مجهز، سمبال او ملتیا ورسره وشي چې د دې توان ولري چې پر بېرته ترڅو سیاسي قدرت د دولت په لاس کې پاتې شي او شوي د امنیت ضمانت وکړي. کله چې دغه هدف تر لاسه شي، بیا نو موږ ویلای شو چې زموږ دنده ختمه شوې ده او کولای شو چې بېرته ووځو.

**دویچه ویله:** د آلمان د دفاع پخوانی وزیر پیټر شتروک چې اوس وفات شوی دی، یو وخت ویلي وو چې «د آلمان دفاع د هندوکش د غرو په لمن کې کېږي.» آیا دغه جمله لا تراوسه هم صدق کوي؟

۷مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# روغتیا او ژوند

## مستۍ مو د شکر له ناروغۍ څخه ژغوري

که تاسې په ځینو ورځنیو ژوند کې ماستې نه استعمالوئ نو له دې وروسته بیا د ځینو خوړو سره اړینه برخه وګرځوئ: په هاروډ عامې روغتیا اداره کې شوې دغه نوې څېړنې ثابته کړې چې د مستو زیات یا ورځنی استعمال به انسان د شکر له ناروغۍ څخه په ژغورلو خلوېښت زره کسانو د ژوند او ژوند کولو طریقه له څېړنو څخه دا معلومه شوه هغه کسان چې هره ورځ ماستې استعمالوي په هغوی کې د شکر ناروغۍ په کمه اندازه لیدل کېږي. د دې څېړنې څېړونکي وايي چې د زیاته اندازه ماسته خوړل په زیاته اندازه د شکر ناروغۍ

کې ډېره زیاته مرسته وکړي. د څېړنې په اساس د ورځې ۲۸ ګرامه ماسته خوړل به د شکر ناروغۍ خطر ۲۰٪ کم کړي. څېړنې په اساس د یو لک او نهه خطر کمولو لپاره بسې که څوک غواړي چې له دغې ناروغۍ څخه په امان وي نو له ۲۸ ګرامو څخه هم زیاته اندازه ماستې باید استعمال کړي.

## له زکام څخه د ځان ژغورنې مهمې لارې چارې

د زمي په راتلو د ژمي شاو خوا اوسا سله خلک خوښي کوي او د اوړي په پرتله ژمي له خوښېنه وي، مګر یوه وېره ورسره وي، هغه دا چې په ژمي کې د سړې هوا له امله د هوا الرجي، او زکام خلک ډېر تکلیفوي او داسې هم ویل کېږي، چې د زکام دارو وخوري، نو په یوه اوونۍ کې به ښه کېږي او که یې ونه خوري نو هم یوه اوونۍ وروسته به ښه شي. له زکامه د ځان ژغورنې لپاره څو پخوانۍ کورنۍ نسخې دوسره شریکوو او لوستونکي یې باید له ځینو دوستانو سره شریکې کړي.

**لاس وینځل** له زکامه د ځان ساتلو یوه اسانه طریقه دا ده، چې هر وخت باید خپل لاسونه په صابون پاک وینځل شي، ځکه چې فلو وایرس ډېر وخت، د لوښي، او بوړۍ له لارې بل ته انتقالېږي. پر زکام اخته ناروغ خپل لاس په خوله او پوزه وهي او دغه لاس بیا بل روغ سړي سره لګېږي، چې هغه یې بیا خپلې پوزې او خولې ته وړي، نو ښه طریقه دا ده، چې تل باید خپل لاسونه په صابون وینځو او له دې ناروغۍ څخه ځان وژغورو ځکه چې الله تعالی د خپل قدرت له مخې شپې اوږدې کړې، نو د خوب پر مهال د انسان بدن د صلاح شویو حلیاتو د مرمت او بیا سمونې کار پیلوي او د اوږدو ساعتونو د خوب په نتیجه کې د انسان بدن بیرته خپل صحي حالت ته راګرځي او د فلو «زکام» وایرس یې له منځه وځي او د دې مقابل کې ذهني ستړیا او بې خوبي د بدن مدافع قوت کمزوري کوي، چې له امله یې د زکام په ګډون نورې ناروغۍ هم پر انسان اغیزه کوي.

**ورزش** ښځې ورزش د انسان بدن کې وینه ګرمه ساتي او سپین کرویات پر تنه د ویند کووتکو وایرسونو مخه نیسي. طبي متخصصان وايي، چې شپه ورځ کې لږ تر لږه یو ساعت ورزش انسان تندرست ساتي. دا لازمه نه ده، چې ځان ځانته ډېر او سخت ورزش وکړي، بلکې په ژمو کې کښته پورته لاره دا ده، چې سړی باید له ډېرو غوړو او خوږو خوراکونو ځان وژغوري سړي.



ژغورلی شي.

**زنک (جست)** په مناسبه اندازه صحي خواړه، چې زنک ولري د فلو وایرس مخنیوي کې ډېر رول لري. د دې لپاره نه مېوې او لږ پروټین لرونکي خوراکونه استعمال کړئ او دې کې تر ټولو اغیزمن او ګټور شی زنک دی، چې د فلو وایرس په مخنیوي کې ښه رول لري.

اوږه اوږه د جراثیمو په وژلو او له منځه وړلو کې ډېره مشهوره ده او ژمي کې پر بدن د بکتریا او نورو وایروسونو په مخنیوي کې ډېر کار کوي او که تنه اوږه له چکن سوپ سره وکارول شي، نو هېښوونکې ګټې یې وړاندې کوي. اوبه ژمي کې ډېری خلک د سړې هوا له امله نه کوره نه راوځي او د کور ګرمو کوټو کې وخت تېروي، چې ورسره د بدن لوندوالی کمېږي او دغه مهال د بدن دفاعي حالت کمزوری کېږي، مګر له دې حالته د ځان ژغورنې لپاره ښه دا ده، چې سړی د خپل بدن اوبه پوره وساتي او وخت پر وخت په مناسبه اندازه اوبه وڅښي.

**خندا** ښه روغه او چلند خو انسان د ژوند په هر پړاو کې بیا نه رسوي او د دې تر څنګ که څوک خندا خپل عادت وګرځوي، نو یوه اضافي ګټه یې دا هم ده، چې تر ډېره به له زکامه خوندي وي. د خندا د نورو ګټو تر څنګ یوه دا ده، چې سړی په خلاصه خوله وخاندي، نو دې سره د بدن د دفاعي نظام حلیې زیاتېږي او د فلو وایرس مخنیوی کوي.

## د سرطان د مخنیوي لپاره د روغتیا د نړیوالې ادارې سپارښتنې

د روغتیا نړیوالې ادارې (WHO)، د سرطان د مخنیوي لپاره څو سپارښتنې کړې او خبرې کړې دي ډاکټر (Joachim Schuez)، چې دا څېړنه یې کړې، وايي چې که انسانان په ځینو عادتونو کې بدلون راولي تر ډېره د سرطان په وژونکې ناروغۍ له اخته کېدو ژغورل کېدای شي.

۱. سګرټ مه څکوئ، هیڅ راز دخانیات یا تمباکو مه استعمالوئ.

۲. کور مو د سګرټو او نورو دخانیاتو له لوګي پاک ساتئ: د کار په ځای کې هم بل څوک مه پرېږدئ چې سګرټ وڅکوي.

۳. د بدن وزن ته خیال ساتئ.

۴. په ورځني ژوند کې له فزیکي نظره فعال اوسئ: هغه وخت کم کړئ چې په ناسته یې تېروئ (یعنې ډېره ناسته او نه تحرک بد دی).

۵. صحي خوراک کوئ:

* زیات حبوبات، سبزیجات او مېوه خورئ.

* د زیاتې کالورۍ درلودونکي خوراکونه لږ کړئ (له هغه خواړه چې زیات خواړه یا غوړ لري).

* پروسس شوې غوښه (سلامي - ساسج) مه خورئ: سره غوښه (د غوښې او پسه) کمه خورئ او په خوړو کې د مالګې اندازه لږه کړئ.

۶. که هر راز الکول څښئ، اندازه یې کمه کړئ: د الکولو نه څښل د سرطان د مخنیوي لپاره ښه دي.

۷. لمر ته زیات مه پاتې کېږئ، په تېره بیا ماشومان باید د لمر وړانګو ته زیات وخت تېر نه کړي. د لمر ضد کریم استعمالوئ، د لمر له حمامه ځان ساتئ.

۸. ماشوم ته د مور شیدې د سرطان خطر کموي.

که ماشوم ته شیدې ورکولی شئ او نه غواړئ چې ورسې کړئ د هورمون بدلولو تداوي مه کوئ، ځکه چې (Hormone replacement therapy)، د ځانګړو سرطانونو خطر زیاتوي.

۹. خامخا خپلو ماشومانو ته دا واکسینونه ورکړئ:

* هیپاتایټ بي (د ځیګر لپاره)

* ایچ پي وي (Human papillomavirus)، د نجونو لپاره

۱۰. د سرطان د معاینې په پروګرامونو کې برخه واخلئ:

* د کولمو سرطان (نارینه)

* د سینې سرطان (ښځې)

* د زېلانځ یا رحم سرطان (ښځې)



## نارنجي رنګه خواړه مو له ړندېدو ژغوري

تاسې به اورېدلي وي چې ګاجرې او نارنج رنګ ته ورته خواړه د سترګو دید زیاتوي او باصرې حس له ناروغیو او کمزوریو ژغوري دا ریښتیا ده، ځکه چې دغو خوړو کې بیټا کیروټین (Beta-Carotene) مواد چې وېټامین اې (vitamin A) غوندې دي، وجود لري چې دغو خوړو ته ژېړ رنګ ورکوي او سترګې او دید ته یې ډېر ګټور دي. خو یوازې بیټا کیروټین د (Zinc) هم لري چې د سترګو شاتنۍ برخه کې د داغ پیدا کېدو مخه نیسي او انسان له ړندېدو ژغوري.

۳. سټروس او توتان:

دغه مېوې پرېمانه پیمانه وېټامین سي (Vitamin C) لري، چې انسان له ړندېدو ژغوري او په سترګو کې موجود اوبو څخه ساتنه کوي او د کمېدو مخه یې نیسي.

۴. بادام



سترګو دید نه زیاتوي، بلکې ډېر نور خواړه هم شته چې لید مو زیاتوي او د باصرې حس له مختلفو ناروغیو ژغوري. لاندې خواړه د سترګو دید لپاره ډېر وخورئ:

۱- شنې پاڼې لرونکي خواړه:

شنې پاڼې لرونکي خواړه د لیوټین (Lutein) او ژیزانتین (Zeaxanthin) غوره سرچینه ده یاد مواد د سترګې شاتنۍ برخه کې د داغ پیدا کېدو کوم چې د ړندېدو اصلي لامل دی، مخنیوي کولو سربېره د سترګو د اوبو ساتنه کوي.

۲- هګۍ:

د هګۍ ژېړ هم پر لیوټین او ژیزانتین لرلو سربېره ډېره زیاته اندازه زنګ بادام له وېټامین اي (Vitamin E) څخه ډک دي وېټامین اي (Vitamin E) هم په سترګو کې د داغ پیدا کېدو او ړندېدو مخه نیسي. څېړنو ثابته کړې ده چې د ورځې یو موټی بادام بدن د وېټامین اي اړتیا پوره کوي.

۵- د کبانو غوړ:

تونا (Tuna)، سالمون (Salmon) او انچووي (Anchovy) نومې کبانو کې ډي ایچ اې (DHA) نومې مواد په زیاته اندازه پیدا کېږي. ډي ایچ اې (DHA) یو ډول غوړ اسید دی چې د سترګو له وچوالي څخه چې (Dry eye syndrome) په نوم یادېږي مخنیوی کوي.

## آتیزم یا د اعصابو د ودې ستونزه، ښه والی او مشکلات یې

ریوتونه وايي چې په تېرو پنځوسو کلونو کې د هغو ماشومانو شمېر چې په آتیزم باندې اخته دي خو برابره زیات شوی دی. ساینسپوهان اوس د جسمي روغتیا او تولنیزو عاداتو ترمنځ په اړیکو غور کوي په دې کې هغوی د انسان په هاضمه سیستم او کولمو باندې څېړنې کړې او غواړي چې اړیکې یې له آتیزم سره پیداکړي. د ټمپل ګاردین په سوونځي کې چې د کولراډو ایالت په بولډر نومې ځای کې پروت دی تنکۍ ځوان پارکر چې په آتیزم اخته دی وايي دا بوخه ګټې لري. هغه وايي «د آتیزم لرونکو کسانو د فکر بهیر د ستونزو په حل کې په زړه پورې دي: له ډېرو تخلیقي لارو نه کار اخلي. نظر دېته چې ډېرو منځکوره وګړي په خبر د ستونزو د حل لپاره له ډېرو ساده او بسیطو لارو نه کار واخلي» ددغه کار منفي اړخ دادی هغه څوک چې په آتیزم اخته وي: هاضمه یې خرابه وي او له همدې کبله اندېښنه یې زیاته وي ترڅنګ یې له ټولنیز پلوه سخه وي چې له خلکو سره خبرې وکړي. پارکر زیات شمېر څېړونکي دا ګومان کوي چې پارکر غواړي بوخه وکړي. د کالیفورنیا د ټکنولوژۍ او ساینس د انستیتوت بو ساینس پوه سارکز موزمانین وايي هغه خواړه چې

وايي، «دده په خوراک کې بدلون دده روغتیا او طبیعت ته انکشاف ورکړی دی» هغه زیاتوي، «زه فکر کوم اوس یقینا هروخت ډېره کمه بدخلقي، ډېره کمه سخت مزاجي او جنجال کوم» خلک خوري په ملیاردو ګڼو بکتریاګانو باندې چې د هاضمې په نظام کې ژوند کوي، اغېزې لري په دې کې د بکتریا فراجلس بکتریا هم شامله ده هغه زیاتوي، «دغه بکتریا د پرېشانۍ او اضطراب حالت ته انکشاف ورکوي، تکراري خوبونو ته هم انکشاف ورکوي او د خبرو اترو مهارت ته هم وده ورکوي» مازمانین وايي دغه میکروب هغو مږو ته ورکړل شو چې په آتیزم اخته وي، دهغوی دکولمو روغتیايي حالت ښه شو، اوبالاخره دهغوی اندېښنې هم ورکې شوې هغه وايي ددغه اغېز به پر هغو انسانانو هم ډېر پراخ وي چې په آتیزم اخته دي هغه وايي، «لږ ترلږه په آتیزم باندې د اخته خلکو، په یوه فرعي ځانګه کې، آتیزم دمغزو ناروغي نده خو بنايي هغه ستونزې چې په کولمو کې دي، هغه په اتیزم باندې د اخته خلکو په خبر اعمالو په پیداکولو کې ونډه لري که چېرې څوک د کولمو او خېټې د علایمو چاره کولی شي، نو په کړنو اوسلوک کې یې هم انکشاف راتللی شي» د اریزونا د ایالت له پوهنتون څخه روسا کرازمالنیک هم په انسانانو کې آتیزم په هکله ورته شواهد پیداکوي هغه وايي، «زیاترو خلکو چې څېړنې کولې، هغوی په په آتیزم اخته ماشومانو په کولمو کې د پاتوجینز له کوله موږ په هغوی کې د پتو جینز له نه کوله موږ په دې پسې کتل چې په ماشوم کې نه میکروبونه شته که نه او موږ دېته ورته نښې نښانې پیداکړلې» د هغې په لابراتوار کې داسې شیان په مستند ډول پیدا شوې چې په اتیزم اخته ماشومانو کې د کولمو مختلف میکروبونه نظر هغو ماشومانو ته کم وي چې په آتیزم اخته نه وي دهغې ملګري ګومان کوي چې بنايي ددغه کار علت د عصري خوراکونو او انتي بیوټک دواګانو ډېر استعمال وي. داټول څېړونکي په دې موافقه لري چې په دې برخه کې نور ډېر شیان هم دخیل دي نسبت دې ته چې د هاضمې، میکروبونو او آتیزم ترمنځ اړیکې پیداکړای شي خو هغوی په دې باور دي چې دوی په یوه امیدبښونکې لاره روان دي، او ددوی موندنې بنايي د طبیعت د نورو بې نظمیو لکه ژور خپګان او سودايي توب په برخه کې مرسته وکړي

## ساینس — د دوو ژبو زده کول روغتیا ته ګټه لري

د ساینس د پرمختګ لپاره د امریکايي ادارې پوهان وايي چې د دوو ژبو زده کول روغتیا ته ګټه لري. د دغې ادارې څېړونکي وايي هغه وګړي چې دوې ژبې یې زده او هغه کاروي د هغو په پرتله چې یوه ژبه یې زده وي د ناروغیو په مقابل کې ډېر مقاومت لري. همدارنګه هغه ماشومان چې دوې ژبې یې زده وي د هغو په پرتله چې یوه ژبه یې زده وي ډېر فعاله او ځیرک دي. دغه څېړنه چې د الزایمر په ناروغانو باندې شوې شي چې د دوو ژبو روښونکي وګړي ددې ناروغۍ په مقابل کې ډېر مقاومت لري. د یورنتو دیورک پوهنتون یو اروا پوه ایلس بیالیسټوک وویل که څه هم د ژبو زده کړه د انسانانو په عمر پورې نېغ تړاو لري خو بیا هم دا څېړنه د هر عمر لرونکي انسان باندې صدق کوي. هېرده دې نه وي چې په دغه څېړنه کې راغلې دي هغه کېدوال چې په کور کې مورنۍ او د کورنۍ د هغه هېواد ژبه وايي د مغزي فعالیت او روغتیا له اړخه د هغه هېواد د کورنۍ وګړو په پرتله ډېر سالم دي. د دې څېړنې په پایله کې داسې انګېرل شوې چې له دوو د ډېرو ژبو زده کړه او کارول کېدای شي د مغز په فعالیت له دې امله منفي اغېزه وکړي چې په یو وخت کې باید ویونکي په خپل مغز کې خو ځله د ژبو کوډونه سره بدل کړي

**تنها الدر**

## د ماشومانو ختنه (سنتول) د ایډز خطر کموي

په امریکا کې د ناروغیو د مخنیوي او مبارزې یوه مرکز د نارینه وو د ختنې (سنتولو) په اړه یو لارښود خپور کړی، او له خلکو یې غوښتي، چې تر ۲۵ ورځو پورې خپل نظر ورسي، چې بیا وروسته دغه مرکز د سنتولو په اړه خپل وروستی لارښود خپور کړي. دغه لیکل شوی ابتدايي لارښود د سنتولو د ګټو او زیانونو د علمي شواهدو پر بنسټ چمتو شوی، چې په خلکو کې د ایچ آی وي وایروس د لېږد په اړه د مخنیوي په اړه ډېره پاملرنه یې شوې ده.

**ګټې**

ختنه کول د جنسي اړیکې پرمهال د ایچ آی وي وایروس د لېږد خطر (له پنځوسو تر شپېتو سلنې پورې) کموي، یا په بله وینا، سنت شوي کسان له یوې داسې ښځې سره د جنسي اړیکو پرمهال چې ایچ آی وي ولري، تر امکان لري چې په ایچ آی وي وایروس اخته شي ددې سربېره، سنتول د تناسلي ناروغۍ (Herpes) خطر په سلو کې له ۳۰ تر ۴۰ پورې کمولی شي، او د هغو خطرناکو وایروسونو په مخنیوي مرسته کولی شي، چې د سرطان ناروغۍ سره تړاو لري. ارزښت نیسي، چې سنتول له ښځې نه سړي ته د ایچ آی وي وایروس د لېږد احتمال کموي. دا هم ویل شوي، چې په سنت شویو نارینه وو کې د سرطان ناروغۍ ته په لږ اوږدې موده راتلیې په ځانګړي توګه تولیږو کړېو کې په دې خبره بحث روان دی چې د نارینه کوچنیانو سنت کول د دوی د روغتیا لپاره څومره ګټور دي نو دې تود بحث ته اخلاقي پلوه څومره د منلو دی دا بحث په ځینو هېوادونو کې د علمي او روغتیايي پوښتنو ترڅنګ د سیاست غولي ته هم رسېدلی دی او په ځینو مذهبي او ټولنیزو ډلو لپاره یې ترڅنګ غبرګونونه زېږولي دي. دا کولی ادعا کوي چې د ختنې عملیه اړینه نه ده او بې ځایه یا تحمیل شوې چې په کوچنیانو شویو ډاکټرانو په لاس ترسره شي

# ادب، تاریخ او فولکلور

## د کابل لرغونی او تاریخي دېوال د واقعیتونو او افسانو په رڼا کې

د شېر دروازې غره هغه لرغونی، تاریخي او اوږد دېوال چې تقریبا له څه کم ۱۰۵۰ کالو پخوا ددغه غره په ستوڼو لاشونو کې، دیوه اوږده مار په څېر کږو وږو له پل آرتل نه د سهیل ختیځ بالاحصار، پلوغزېدلی دی، دلېرو زمانوڅه یادونه له ځان سره لري کوم یې واقعیت او کوم یې افسانه دي؟

څنګه د کابل ښاریانو لرمنځ همدا اوس هم په منتجه العال ډول دا نقل قول موجود دي چې ددغه دېوال په پخوو کې په زرګونو هغه کسان چې ددېوال د جوړولو پر مهال یې بیا د وخت د باچا نا فرماني کړې، یا هم دا ډول پنده اوبا هم د تهداب لیږه تري لوېدلي ده، خښ شوي دي؛ دا ټولې هغه پوښتنې دي چې ارتباط د واقعیتونو په رڼا کې یې سپیناوې وشي او بشپړ جواب ورته موندل کېداي شي، څنګه ددغه دېوال همدا اوس هم له سره تر پایه د یو تاریخي یادګار په توګه په ځای ولاړ دي او بالمشاهده یې هر لیدونکي د لرغونو زمانو انساني شاهکاریو بوخلانده مظهریه عنوان ویني او پېژني. اصله خبره د منطقي دلایلو په رڼا کې د هغه افسانوي او زړه بوګنوونکو روایاتو په سپیناوي ده چې همدا اوس هم د کابل د یو شمېر خلکو تر منځ په پاخه یقین زمزمه کېږي ــ لرهرڅه لومړي دا ربنتیاده اومنو یې؛ چې دا دېوال د زنبیل شاه او زنبورک شا د واکمني پر مهال دوخت د یوه قوي (سد) په

توګه دېرغمنو دحملو د مخنیوي په مقابل کې جوړ شوي دي خودا چې دا دېوال د دښمن له حملو نه د (محصور) ښار د بچ پاتې کېدو لپاره ترکومه بریده مؤثر او اغېزناک و او جوړول یې په دومره ګړاو زحمت ارزېدل چې دا دېوال دې جوړ شي

، موږکوم کارنلرو، اصل مطلب دادي چې واوه شو ددغه دېوال د رنګو شویو او بېرېدلو خاپولو په کومه برخه کې چا د انسانانو دهډوکو را ختلي لوني او کوم هډوکې لیدلي چې ددغه انګېرنې له افسانې له واقعیت له ورسوي، ښایي ځواب منفي وي؛ څنګه که چېرې د اسماعی غره په ستوڼو لاشونو کې ددېوال په امتداد چا د افسانو مطابق کوم هډوکي لیدلاي وای حتمي ددغه روایت په مصداق موضوع په رسنیو کې را غبرګېده چې بیا د شک ځای نه پاتې کېده په ربښتیا هم دغه ظالم باچا پرته له دې چې ارزښت ولري ددغه دېوال له خاورو او تیږو نه جوړ

کړ چې دیوه ظالم باچا دظلم او بېداد یوه ستري او درنېدنه لمونه ده خوداسې څه چې فېښوانیوالو اوسنیو روایاتو سره مطابقت ولري په ددغه دېوال کې له دې تبدیل شوي او دا له منو چې دغه ظالم باچا به په دغه دېوال کې شوک بنځ کړي وي که دلیل را وړو چې ددغه ستري دېوال د جوړولو اړتیا له وه د کابل ښار اوسېدونکې په وړې ګېډلي وي تر یوه بریده ښه ده خو که دا دېوال نه واي نو دا شاهکار به هم نه و ددغه دېوال په اړه یل روایت له راڅواو هغه دا چې وایي زنبورک شاه د یوې ښځې په لاس له منځه ولاړ؛ دا چې ولې دې ښځې یوباچا ووژلا وایي چې ددغه باچا د واکمنۍ او ددېوال جوړولو پر مهال یوه ځوان له یوې انجلۍ سره کوزدن وکړ او کله چې ددوی د واده ورځ را ورسېده نو انجلۍ له هلک نه وغو ښتل چې لس رخصت واخله او کارته مه ځه، هلک له وېرې دا جرئت ونکړ چې د باچا له فرمانه سرغړونه وکړي انجلۍ یوه شوه چې باچا ډېرظالم دی چې خاوند له یې د واده په ورځ هم رخصت نه ورکوي، له ځان سره یې پرېکړه وکړه چې د باچا چاره په خامخا کوي، د کار ځای له راغله او له کارګرانو سره یې په لوڅ مخ کې په کار پیل وکړ، دا وخت تابېره یا چا له کوم لوري پیدا شو کله چې دښځې ستر ګې پرې ونګېدې نو ژر یې څپل مخ له یا چا له پټ کړ باچا په ډېر تعجب له ښځې وپوښتل چې ولې له کارګرانو سره په لوڅ مخ کار کوې او له ما دې مخ پټ کړ، ښځې په ځواب کې ورته ووېل زه په دغه ځای کې له

تا پرته بل نر نه وینم ، باچا بیا په ډېر تعجب تري وپوښتل ، له څه وایې ( دلته هغه کسان چې کار کوي ټول نارینه دي ، ښځې جواب ورکړ، نه ، که چېرې دوی لران واي نو ستا دا دومره ظلم، تاروا او نادودې به یې په ځان نه منلي ، لیېره یې را واخیسته باچا یې په ګذري ووېشت او په لګې یا چا ووژل شو په پای کې یو څل بیا یادونه کوو چې دغه دېوال یو څل په شپاړسمه پېړۍ کې او بل څل د احمد شا ابدالي د زوي تیمورشا د واکمنۍ او بیا د امیر عبد الرحمن خان په زمانه کې مرمت شوي دي خو دا خبره له هېچا نه ده اورېدل شوي چې ددغه دېوال په فدایي برخه کې د چا دلاس پښې او یا ګکرې وراسته هډوکې را وختل، موږ ولیدل او دا یې بیلګه ده چې نوورو سلي او خرګندي لنیجې له رسیږو چې زنبورک شاه به په دې ظالم و، چې دومره ستري دېوال یې د یوه سېر په توګه د پردیو د حملو ددفع او لره په مقابل کې جوړاوه خو دومره به نه و، خوري چې ژوندي انسانان یې په دېوال کې ښخول په هر صورت روایت دي چې دا بنځه چې دغه باچا یې ووژه ، سو ډېي ، نو میډله ، چې د سپویږمي په مانا ده او دا غر چې دا دېوال یې په سینه کې تېر شوي دي لـــمبي وجـــه یې د سو ډېي له نامه لومړي د آسه ماه ، او وروسته په ‹اسماعي ، او بنتي دي اوداکېه هم د کابل ښاریانو ترمنځ له یوې ژبې نه بلې او له یوې سیني ملي تر ـــس ورځـــي را رسېدلې ده

حیات الله

## د سرمحقق سید محی الدین هاشمي (( وینا څنګه وکړو؟ )) ژباړل شوی کتاب له چاپه را ووت

دهرکاربه ترسره کول څپل ځانته یوه لیغه، پخه، مستقیمه لاره او طریقه غواړي که څوک پخپل هدف کې له دې لیغې لارې چپ شي لوخود به خامې نه وزي او دوړې به کوي، دلته زموږ موخه هم په یوه ډېره مهمه موضوع چې هغه (وینا څنګه وکړو؟) دیوه نوي چاپ شوي کتاب په مخ کتنه او منځپانګه را څرګې څنګه هم کتاب مهم دي او هم یې مخ کتنه باید په داسې الفاظو او کلماتو وشي چې د کتاب له محتویاتو سره تناسب ولري او دهغه اهمیت په ربښتیني بڼه را غبرګ کړي څکه د کتاب له عنوان څخه څرګندېږي چې دیوې پنهې ( ناستې) انساني کتلې په وړاندې د خطابې د میز له شا د لومړي ځل لپاره څنګه وینا وکړو؟ داسې وینا چې که مو لومړي ځل هم وي خو غږ او نه مو دحاضرینو له اغېزې وتنه زیږي په ربښتیا هم چې د لومړي ځل لپاره په یوه محفل کې وینا سخته ده او سمي پر ځای او منطقي خبرې کول هم کومه اسانه خبره نه ده که چېرې موږ یو څوک وګورو چې د خطابې د میز له شا په جرئت او مهارت خبرې کوي جایې په بار بار یې ستایې ورکړې وي او په ځان بشپړ کنترول او حاکمیت ولري، نو څکه هغه کسان له دې امرنه مثتثني دي

زموږ خبره په هغو کسانو ده چې نوي غواړي لیډران شي اویا هم د کوم بل مکلفیت له مخې وینا کولو ته اړ شي ، نو څنګه باید دوی جرئت ولري چې په داړه زړه دنورو په وړاندې خبرې وکړي ددوی لپاره څه کول پکار دي؟ په دغه کتاب کې ددې

کسانو لپاره داسې پیغام پروت دي چې د کتاب په لوستلو یې ستونزه کنترولېږي په ربښتیا هم چې ددغه کتاب مطالعه به له هغو کسانو سره ډېره مرسته وکړي کوم چې غواړي نوي د سیاست په ډګر کې داخل او خپل ذهني تراوشات په سمه او منطقي توګه حاضرینو ته ابلاغ کړي ددغه کتاب په پنځو برخو او پنځلسو څپرکیو کې چاپ شوي دي په

لومړي څپرکي کې د وینا کولو اساسي او اصولي مهارتونه په ګوته شوي او همدارنګه راسپي چې د خبرو کولو په وخت کې د نورو له تحرسو څنګه ګېه واخلی او د جرئت زړه پیدا کړی، نو تر څ لومړي خپل هدف او موخه په وړاندې ولري، مخکې تر مخکې خپل ذهن بربالیتوب ته چمتو کړي او دتمرین لپاره هیڅ فرصت له لاسه مه ورکوی او که امکان ولري غره ته ولاړشي او هلته تیږې د ناستو کسانو په عنوان خپل ذهن له را غبرګې کړي هموي ته اوردې خبرې وکړي تمرین وکړي خپل غږ او د خبرو کولو طریقه په ټیوړ

او تیپ اواز تمرین کړي چې دا تر ټولو ساده او اسانه طریقه ده او ډېرو هغو کسانو چې په پیل کې د خبرو کولو جرئت نلري دا طریقه تمرین کړې چې په زړه پوري نتیجه یې لرلې ده ددغه کتاب په دوهم څپرکي کې د وینا کولو پر مهال په ځان د باور په اړه موضوعات را غلي دي اوددې څپرکي مهمه موضوع داده چې ډېره یا ډار له نابوهي او پر ځان له باور نه لرلو را زېږي داچې څنګه د ډېرو کسانو په وړاندې وینا وکړو د وینا کولو پر مهال د جرئت بو نوي لارښود باب دي د وینا کولو اسانه او اغېزمنه لار ددې کتاب ددریم څپرکي محتویات دي چې د مطالعې او تجربې په بنا یې د وینا کولو سمه او پر ځای لارښوونه کړې ده او په دې څپرکي کې دا هم راغلې چې تاسې د څه په اړه چې خبرې کوی باید مینه او علاقه هم ورسره ولري یا په بل عبارت د بیانیو ورکولو پروخت ټل هغه موضوع د ځان لپاره وټاکۍ چې مینه او مهارت دواړه ورسره ولري خلورم څپرکي، بیا د وینا وال او اورېدونکي په اړه د وینا کولو د مثلث ددرېو هرمونو او د هغو ددرېو تاکلیواړخونو په هکله دي چې د کنفرانس ټوله موضوع پرې را څرخي اولنیه داچې کتاب تر وروستي څپرکي پوري د خبرو کولو په اړه په زړه پوري مطالب او څرګندونې لري چې په لوســـــتلو يـــــي د وينــــا كولـــــو اصول او سمې لارې چارې لوستونکي ته ورزده کېږي دغه کتاب د ۱۰۰۰ ټوکو په کمیت په ۲۷۵ مخونو کې د میهن خپرندویې ټولنې له خوا په روان کال کې چاپ شوي دي

حلیم

## ملي، ولسي او فولکلوري سندرې

خېړونکی: محمد منګل

ملي او ولسي فولکلوري سندرې یا شعرونه، دپښتو لرغوني آریایي ژبې هغه ادبي رنګینې او فهمنې مرغلرې دي، چې دپښتو ادب دادبي چوکاټ له رغښت سره سمې دپښتون ولس له خوا ویل شوي او ایجادشوي دي دا ولسي خود رویه اشعار لکه دصحرا ګلونه ډېر سوچه راغوړېدلي دي، چې خانګړی فورم، رنګ، بڼه، خوند اومحتوی لري، په خاص تال، سرود، اهنګ اوسیلاب سره ویل کېږي، چې دملي موسیقي ډېر غوره اوپاخه رغښتونه لري دا ملي، ولسي اوفولکلوري اشعار دپښتو دتاریخ اوپولېز ژوند یې ساري لمره اومحصول ګڼل کېږي، چې دپښتو ولسي ادب بې ډېر پرې تاند، تازه، سمسور اوخوشبویه دي داهم څرګنده ده، چې په دغو ملي اوولسي سندروکې دقامولي او وطن دوستي رنګ ډېرغالب دی، داځکه چې دولس له ملي روحیې څخه سرچینه اخلي او د ملي رنګین روح په دغو بې سارو اشعاروکې په پوره جلوې اوخلاسره راځلېدلي اوانځور شوي دي، چې دځان ثبرېدلي، دوطن دننګ، مینې اوعشق لمبې پکې په خاصو ادبي ولولو سره زمزمه شوي دي اولابه دپښتو ادب په شه اوسموره ورشو کې دغه ادبي بابسته غوټۍ راسپرغې اوګلونه کېږي، دډېروغازیانو، شهیدانو او مېړنو دمینې، حسد اوکینې یادونه په کې شوي ده دا ملي سندرې او اشعاردپښتو هغه خوږ ادب دی، چې دمینې، ذوق او احساس اودپښتو دپښتونولۍ له قانون اوانساني ډېرو سوجه ټانو څخه راپیداکېږي، چې محرک اوخوځښت یې هم یوازې دپښتون دمینې نه ډک زړه اووده داناني مینې عواطف

اوکردار جلوه لري، چې په پښتو اوپښتونولۍ پورې اړوند دي دپښتو داملي اوولسي غوره سندرې اوفولکلوري اده پښتوژبه په رابېرازه او ژوندي کوي اودپښتو دخپل منځي اوانسان پېژندنې مم اوبه سمون له پاره ډېره عالي الوبه وسیله اوباوري پانګه ده پښتو ته داضرور اولازمه ده، چې ددغو ملي اشعارو اوفولکلوري سندرو په رغښت اوبرخه کې په ځان ربړ ونه ومنې او هڅه له کلیو اوبانډو څخه له ټولې هڅې اوادبي ښکلا سره راټولې کړي اوددغې لارکې قلم په مینه وچلوي راځلونه په ستري کړي په هرحال موږ به دلته دماموني ((میموني)) دلرلي ژوند اوکیسې په اړه، چې په ټاټه اوخوانه خواني دیني په عمارې اوښطانې دخپل مېړه له خوا حلاله شوي اومړه شوې ده دیلګې په توګه ږو خوسندرې په دې اړه درته وړاندې کړو

میمونه، ماموني، میمونې دخیرمحمد لور ده، دهاجورډناوه ګی دغلجیو په کلي کې یې دخپل پلار سره ژوند کاوه میمونه اوماموني، چې خوانه اوښکلې وه، داسې ښایسته وه لکه دیاقوت غمې دښکلا اوښایست آوازه یې په ټرې اونېږدې پښتونخوا کې خوره وه هرچا یې غوښتل، چې دابنکلې ښځه دخپل کاله دیوه کړي، خو دخدای په کارونه وو ددې قلم دخپل تره له زوی شیرعلم سره وهل شوي وه، پلار یې خپل وراره شیرعلم ته ورکړه شیرعلم په ښځه هم درلودله، چې دکونډې لور وه، دشیرعلم مشرې ښځې دمیموني سره، چې ګشره بنې

یې وه زیاته رخه اوکینه درلودله یوه ورځ شیرعلم له کوره چېرې په سفر تللی و دده مشرې ښځې، چې له خدایه داغوښتل نو دشیرعلم دتلو څخه یې ګټه او استفاده وکړه اوبه میمونه خوارکې یې تور ولګاوه شیرعلم ناپوه، چې له سفره بېرته کورته راغی، بې له یه اوږدیاځه پوښتنې ماموني خوارکې یې دینې په لسمون اوسخت تور، چې عجیبه یې نوم و، حلاله کړه دماموني دغه ترخه اوږه دردوونکې کیسه په ډېرو پښتني سیموکې مشهوره ده، ډېرو شاعرانو ددغې ترازېدي اوغم لرلي کیسې انځورونه په نظم کبلي اودغې په نیمه خوازوند باندې یې سوې سوې چیغې اوفریادونه له خولې ایستلي دي دپښتو په ولسي ادب، په ملي اوفولکلوري سندروکې، دمیموني نوم په زيات خپګان اوخواشینی سره یاد شوي دي، چې دهغې دغمجنې مړینې حال اوبه تري پوره راجوتېږي په ولسي سندروکې یې یاد داسې پرځای شوي دي

په لنډیو او ټپوکې

بیا به په منځ دکلي له ځم
دمیموني دا داګیلي راته کوینه
بیا به په منځ دکلي نه ځم
دمیموني دسرقاتل به شم مینه
دماموني عجیبه خپي
دشیرعلم توري له شیري ورکوینه
ماموني خاص دباجوړ ده
داشیرعلم یې په تسمون حلالوینه
ماموني ګورته خواب وکړو
په صندوقچه کې مې باهودې ورک به شینه
دشیرعلم صبر تمام شو

چېرې نه یې لاس کړو ماموني حلالوینه
دشیرعلم وعده پوره شوه
دماموني دوليي يي پورته کړه دنه
د ماموني دمرګ آوازشو
په بې کې ولې تاویدې ویریې کاونه
دماموني سره وینه راغله
کندي دغم ورته په لار کې جوړې دینه
دماموني مراد حاصل شو
هغې به داساعت غوښته په زیارتونه
دماموني همرولي راغلي
څوک ورته زاړي څوک پرې وایي
تهمتونه
دمیموني دمرګ آوار شو
زانو روان کړل په هوا کې کارونه
دمیموني دمرګ آوازشو
جینکو وران کړل دجمس شینکی
خالونه
میمونه شنه شوه په خندا شوه
دکاکازوی به مایه څه حلالوینه
دکاکازوبه راته وایه
کوم یونقصادي نن په ماکې وتینه
که وي نقصان له مانه شوی
دکاکازوبه مړه مې کړه خون دربخښمه
دکاکازوبه درته وایم
زه پیښنه یمه دقام نامه ګیمه
زه پیښنه یم پمه له یم
دکاکازوبه چې دقام نوم به بایلمه
دشرم کار مانه پدبکاري
زه لوبه شوي دپښتون په کور کې یمه
دکاکازوبه راته ګوره
په ماخولي دختکټن راغلي دینه
په بګتی کې
دپېغلتوب ښایست پخوا وژلی یمه
مابګناه حلالو ینه
....
دمیموني افریاګوره

چېرته به نه وته نه کوره
په شیطنت دمې توره
اوس به یې وژني له پیغوره
چې شیر علم دعجیبې، اوري وینا
مایې ګناه حلالوینه
سندره ټپکی
شیرعلم فکر دموزي و
دتښکوبه بابو چاکړي مرګونه
شیرعلم اصل کې بنګي و
بماکیو، پوهو باندې چاکړې مرګونه
سروکي
دامیمونه خواره یې مړه کړه
دبنو کوز دي شیطاني کوي په غلا
خیرکړي الله
....
داړي میمونه چې مانه نه حلالوینه
سره لاسونه وآریه واروهي ژړا کوینه
وه ژړا کوینه
لوبې
میمونه مې، وړې وړې ستګی وهینه
توله به وینوکې لمده ده
میموني وبلي شیرعلمه
زما دخور ژړګی ملهمه
دعجیبې نه راته پېښ شول پسالونه
توله به وینوکې لمده ده
دعجیبې نه تومتي شوم
لکه پتنګ په اورستي شوم
دشیرعلم مینه په بل باندې کوینه
توله به وینوکې لمده ده
اشنامې نه و هغه مې ورور و
پیدا زما دتره په کورو
دتښکو بې راته وکړنه سوالونه
توله به وینوکې لمده ده
که میموني زاري کوله
شیرعلم کله منوله

## د مصطفی عمرزي په هاند او هڅو د (( پور خرد )) کتاب له چاپه راووت

په منځنیو پېړیو کې به که چا د خپلو خبرو په ترځ کې د طبیعت په اړه کومه نوې نظریه ورکړه او یا به یې داسې فرضیه وړاندې کړه چې له دې د مخه به چا نه وه اورېدلې نو د ارتداد په اتهام او یا په کوم بل نامه به وژل کېده او زړل کېده، څکه هغه وخت د طبیعت په اړه دخلکو د پوهې د کچې د ټیټوالي له امله معلومات کم او لید لوري یې محدود وو، چې په دې توګه ډېرو څېړونکو مطالعاتو او څېړنو په ترځ کې د ټولې نظریاتو وجود څپل خلونه وخوړل او ژوند یې له لاسه ورکړ. داسې پېښې اوس هم د بشر په بدلون لیدل کېږي او اورېدل کېږي چې

ایرانی استاد ناصر (پورپیراړ) په لیت پرکث یه د مقالو په شکل لیکلې او ښاغلي مصطفی عمرزي ددې مقالو د ارزښت او اهمیت په پوهېدو سره هغه را ټولې کړې او ډېر په زړه پوري عالمانه او هر اړخیزې سریزې په لیکلو سره یې په روانه دري ژبه د کتاب په به چاپ کړې دې چې ددې کتاب چاپ د مصطفی عمرزي لوی خدمت ګڼلی شو څکه د خپلو خلکو ذهنیتونه یې د خپلو ارزښتونو، تاریخي مسایلو، هیوادپالنې، ادب او سیاست په ډګر کې رو ښانه کړي دي او د مسایلو په وړاندې د ځواب ویلې کېدو پر ځای یې هڅوي ته د حق غوښتلو حق ویلو د روا او په ځای ګستاخی،

به څېړونکو او شونکو ساحه را تنګه شوي ده، خو دا چاره اوس ډېرو د هغو کسانو په ستوني را غبه ده کوم چې د عقیدتي ارزښتونو د لاپیکاو او ترځنګ یې دنورو مجهولوسیاسي مسایلو سپیناوي په اړه د خپل ولس ددهنیتونو رو ښانه کولو او لا پوهاوي لپاره څېړنې او ګروېرنې کوي زموږ د خبرو اوسني موضوع هم د (( پور خرد )) په نوم د یوه داسې کتاب په اړه ده چې د اسلامي او نړیوالو ارزښتونو په اړه پټنې یکې شوي دي دا هغه کتاب دي چې دعقیدتي ارزښتونو لوی څېړونکي

ذهنیت ورکړي دي په ربښتیا هم که څوک د چا له خوا مظلوم واقع کېږي او یا هم په لوی لاس د بل په وړاندې له خپل ځانه مظلومه جوړوي دا حالت الله پاک ته هم د منلو وړ نه دي څکه د حق غږ باید تل له وېرې پرته او رسا اوچت وي

ناصر (پورپیراړ) د کتاب په لومړیو کې لیکي، که حق ویونکي نه یاست لااقل د حق او حقیقت د اورېدلو جرئت خوولرئ، څرګنده ده چې دا داسې له مانا او مفهوم نه ډکه خبره ده چې

مخ ۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فرهنګ او دودونه

## په اسلام کې د ښځو حقوق

**قتیل خوږیاڼی**

داسلام سپېڅلي دین دغې دتولو انیانو په نسبت دښځې دمقام درناوی کړی اوپه اجتماعي او سیاسي ډګر کې یې له نارینه وو سره یو شان حقوق ورکړي دي له ټولو محکې یې ښځې له دژوند حق ورکړي اوپه ژوندولې یې ددوی ښخول غندلي اومنع کړي دي ((بای ذنب قتلت)) له ښځو په تېره بیا له کونډو سره په بېلا بېلو ادیانو او مذاهبو کې بېل بېل ظالمانه سلوک کېده په یهودو کې به ډېرو ورور کونډې دژوندي ورور ملکیت شوه اوچې خنګه به یې خوښه وه هغې به یې ورسره کول هغې داحق نه درلود چې په خپله خوښه له چاسره نکاح وکړي په عیسویت کې که څه هم داخبره نشته، خوله کونډې سره دښکلې لپاره کومه طریقه نه ده پاکل شوې په هندوانو کې خودکونډې ژوندته له سره ضرورت نه لیدل کېده ټول عمر له خوشحالۍ اوسینګاره بې برخې وه په عربو کې هم دغه رواج و، چې کونډې به دمېراث خوروملکیت شوه ډول ډول تکلیفونه به یې وررسول اوچې چېرې به یې خوښه وه هلته به یې ودوله زمونږ په ټولنه کې هم دکونډې دغه حال و، چې دیهودواوعربو له کونډو سره و اوپه خینو ځایونو کې لاتر اوسه دغه حال روان دي چې کونډه دمنقول اوغیر منقول مال په شان میراث ګڼل کېږي دمېړه له کورنۍ پرته بل ځای ته شي ودېدلي دغه راز په عربو کې ښځې په عمومي توګه دخارویو اومالونو په څېر تجارتي مارکېټونوته وړاندې کېدلې اوهلته به دخارویو غوندې پرته له دې چې څه حق ورکړل شي خرڅېدلې چې دعکاظ تجارتي بازارې غوره اوژوندی مثال دي، خو دحضرت سیدالمرسلین محمدمصطفی (ص) په بعثت سره دغو ټولو ظلمونوته دپای ټکی کېښول شو او ښځوته دشریف انسان په سترګه وکتل شول، په عظیم الشان قرآن کې (۲۸۲) ځایه د ښځې نوم راغلی اودوی په نامه دنسا سور نازله شویده الله پاک (جل علی شانه) دقرآن عظیم الشان په (۷۱) یم ایت کې فرمایي زباړه ((نارینه مسلمان او مسلماني ښځې

دیوبل دوستان اوسانندویان دي په ښوکارونوسره امر کوي اوله بدوکارونوڅخه منع کوي لمونځ دغفه له ټولو ادابو سره سره رسوی زکات ورکوي او د خدای (ج) او دهغه دپیغمبر (ص) اطاعت کوي همدوی دي چې پردوی باندې خدای ژر رحم ورکړي بېشکه چې خدای دستر قدرت اوحکمت خاوند دی)) پیغمبر (ص) فرمایي ((څوک چې دمسلمانانو چاروته پاملرنه نه کوي دمسلمانانو له ډلې څخه نه دی)) اویا ((تاسې ټول دیوبل سرپرست یاستې اوهرڅوک دترخپل لاس لاندې کسانو په هکله مسئول دی.)) خدای (ج) په قرآن عظیم الشان کې داسلام ستر پیغمبر ته لارښوونه ورکوي چې له مومنو ښځو څخه بیعت واخلي او فرمایي ((ژباړه)) ((ای پیغمبره کله چې مومنې ښځې په دې شرط چې دوی به له خدای سره څه نه شریکوي اونه به دوی غلا کوي اونه به دوی زنا کوي اونه به دوی خپل اولاد وژني اونه به په دروغو سره راتله کوي، چې جوړوي یې په منځ دلاسواوپښو خپلو کې یعنې له خپله خانه هغه کوچنی چې له ناروا لارې څخه یې دخپل اولاد په توګه نیولی وي، خپل مېړه ته دې نسبت نه ورکوي، اونه به له تاڅخه نافرماني کوي په معروف (نېکو چارو) کې نوته بیعت وکړه له دوی سره اوبخښنه وغواړه لپاره ددوی (ښځو) له خدایه چې خدای ښه بخښونکی (دخطاګانو) اوډېر رحم والادی (په انعام، اجرا وثواب سره) معروف په لغت کې پېژندل شوی ته وایي اوپه شریعت کې یې په داسې یو شان باندې اطلاق کېږي چې شرعاً اوعقلاً غوره شوی وي، نوله همدې امله دمعروف کلمه ټول هغه ترڅونه اوژمنې که سیاسي وي یاټولنیزې، سوله وي یاجګړه، خو چې دټولنې لپاره ګټور وي په برکې نیسي داسلام په لومړیو وختونو کې هم ګورو چې ښځو دخدای (ج) له پیغمبر (ص) سره دسیاسي اومعنوي مشر په توګه بیعت کاوه پرېدنه دبي بي (زینب) (رض) بیعت نه کول

یا رایه نه ورکول اودېښمنانو په وړاندې مخالفت دخدای (ج) دپیغمبر (ص) په تاریخ کې شهرت لري چې خومره انقلابي اوسیاسي وی اوداسلام ستر پیغمبر (ص) فرمایلي ((ترټولو سترجهاد دظالم رهبر په

وړاندې دحقې کلمې ویل دي)) په قرآن مجید کې په کارونو کې دسلامشورې سپارښتنه شوې اوخطاب یوازې نارینه ووته نه بلکې ښځو او نارینه وو دواړو ته دی لکه چې داسلام ستر پیغمبر (ص) له بي بي خدیجې (رض) سره مشوره کوله اونورو اصحابو هم په مهمو مسئلو کې له خپلو مېرمنو څخه نظر غوښته اوددوی انتقادي نظریاتو ته یې غور نیوه داهم دیادولو وړخبره ده چې بي بي خدیجه (رض) لومړنۍ ښځه ده چې په اسلام مشرفه شوه اوداسلام په لاره کې لومړنۍ شهیده هم ښځه وه چې (سمیه) نومېده دحضرت عثمان (رض) دخلافت په وخت کې دحکم روی مروان خلیفه ته مشوره ورکوله چې دحضرت عثمان (رض) ښځې هم غوښتل چې په دې مورد کې خپل نظر څرګند کړي مروان غوښتل چې دهغې دخبرومخه ونیسي، خوخلیفه وفرمایل ((پرېږده چې خبرې وکړي دهغې مشوره له تا نه صادقانه ده)) دحضرت عثمان (رض) دخلافت په وخت کې په سیاسي چاروکې دبي بي عایشې (رض) لاسوهنې په تاریخ کې

مشهورې دي اودمسلمانانو خلیفه په سیاسي چاروکې دښځو دګډون مخه ددې لپاره چې دوی ښځې دي نه نیوله دحضرت رسول اکرم (ص) په وخت کې ښځو په جګړو کې ګډون کاوه اودضرورت په وخت کې به یې دحضرت رسول اکرم (ص) ساتنه کوله لکه چې دکعب لور (نصیبې) داحدیه جګړه کې خپل ځان دپیغمبر (ص) سپر وګرځاوه اوټیکلې یې دي چې دوولس ځایه ټپي شوې وه له

هغو مشهورو ښځو څخه چې له رسول الله (ص) سره یې په جګړو کې ونډه درلوده ربیعه اوعطیه او ایمان (بي بي عایشه، امیه اوسلیمه ام سنان، لیلاالغفاري اوذهاک اودعبدالمطلب لور نصیبې (رض) په عزت او درناوي یادې شوې دي له اسلامي حکمونو سره سم مسلمانې ښځې په هغه صورت کې چې دمسلمانانو دامیرله خوا دوی ته نیابت ورکړل شوی وي، حق لري چې دښمن ته پناه ورکړي، دسولې په خبرو اواترو کې ګډون وکړي اوسیاسي شخړې حل کړي په هند کې دمسلمانانو دتسلط په وخت کې داورنګزېب او دده دسیال دپاکلو داختلافاتو دحل په برخه کې د بېګم جهان آرا رول دیادولو وړ دي همدارنګه تاریخ لیکونکو داورنګزېب اوشاه جهان دلانجې په حل کولو کې دجهان ارا دهلو ځلو یادونه کوي اولیکي چې ((بي بي جهان ارا له خپلو ټولوسیاسي مصروفیتونو سره سره دخپل وخت دصوفیانو له ډلې څخه هم وه اودوو کتابونو لیکواله هم ده اوترټولو ستر یادګار یې داګرې لوی جومات دي)) دمسلمانو ښځو له ډلې څخه چې په حکومتي اوملکتي سایلو کې یې ونډه درلوده دغه راز په هند کې درضیه سلطانې په هرات کې دتیموریانو په وخت

کې دګوهر شاد اوپه اوولسمه پېړۍ کې د نور جهاني نوم دیادولو وړ دي فرانسوي ستر ټولپوه اوتاریخ لیکونکی ډاکټر ګوستالیون دښځو دحقوقو اوونډې په هکله ((داسلام اوعربو تمدن)) په نامه خپل کتاب کې لیکي ((اسلام له یوازې دا چې دښځې مقام یې ډرونډ کړ بلکې لومړی دین دی چې پر دې کار یې لاس پورې کړ هغه حقوق چې قرآن اوفقهي کتابونودښځو لپاره ټاکلي دي څوځلې له هغو حقوقو څخه زیات دي چې اروپایي ښځې یې لري)) ډاکټر ګوستالیون زیاتوي ((دهغو سطالبو له ډلې څخه چې داسلامي تمدن په وخت کې دښځو په اهمیت باندې دلالت کوي دادي چې زیاتره ښځې دپوهې اوکمال څښتنانې دي لکه چې دستر عالم دصبان دزوی جابر له خولې بي بي عایشه (رض) خوانه اومحترمه ښځه چې دخپل وخت ترټولو پوهه ښځه وه اویادلېنې په نوم یوه بله ښځه چې له ډول ډول عقلي اونقلي علومو څخه په کافي اندازه خبره وه اوډېر ښکلی خط یې درلود په هسپانیه کې دمسلمانانو خلیفه به خپل ټول ارزښتناک لیکونه په هغې باندې لیکل همدا راز دفاطمې په نامه یوې بلې نجلۍ چې دخلیفه لیکونه به یې بیا لیکل په کتابت کې یې دفضل اوپوهې څښتنان ټول حیران کړي وو اوهم یې یوه ډېره قیمتي کتابخانه درلوده چې په هغې کې یې ډول ډول قلمي کتابونه راټول کړي وو)) دپورتنیو دلایلو، دسلګونو ایتونو اواحادیثو اوداسلام دتاریخ دیلایلو صحنو په پام کې نیولو سره داننیجه ترلاسه کېږي چې اسلام ښځو ته په سیاسي مسایلو کې له یوازې دګډون حق ورکړی، بلکې دهغو مسایلو ډول چې دښځو په وسیله سرته رسیږي او له ګټورو کارونوڅخه دي دنوان تراندازې پورې په نارینه وواوښځو دواړو باندې فرض شوې دي په پای کې باید ووایو چې زمونږ په اسلامي عقیده کې سیاست یوازې دټولنیزو چارو دتنظیم او اداري په معنی نه دي، بلکې دټولنې داصلاح او روزنې په مفهوم اودمدني ټولنې دجوړېدلو په معنا هم دی چې په حقیقت کې موږنې دنده اودماشوم پالنه په خپله یو سیاسي عمل دی

## احمدیان، در رقابت با فلم‌سازان جهان

امرالله احمدیان، با ارایه نمایش‌نامه‌های جالب و دیدنی نخست در تیاتر و سپس وارد کار در سینما شده است او اکنون در صدد رقابت با فلمسازان مشهور جهان می‌باشد. این سینماگر افغان با اشتراک در ورکشاپ‌های آموزشی با هنر تیاتر آشنا شده و در چندین نمایشنامه نیز نقش بازی کرده است. ((چهره‌های ماندګار)) نهادی است که به ابتکار احمدیان و محمدیعقوب امینی در هرات راه‌اندازی شده و فعالیت‌های متعددی را در عرصه هنر تیاتر و سینما انجام داده.

احمدیان، تا اکنون توانسته است بیش از ده‌ها نمایش‌نامه را در بخش تیاتر، نویسنده‌گی و کارگردانی کند. از جمله نمایش‌نامه‌های وی که بیننده‌های زیادی داشته است، ((لحظه‌ای برای خنده، رستورانت، سه راهی، تست بازیگری، مادرم روزت مبارک، لبی وی ما، خواستګاری و تعبیر خواب می‌باشد. احمدیان با ارایه نمایش‌نامه‌های تیاتر در ولایت هرات، توانست که چگونگی مدیریت تیاتر را در معرض توجه مردم و هنردوستان قرار دهد. این کار وی باعث شد که دیگر موسسات نیز حمایت شان را از این نهاد اعلام کنند. ((چهره‌های ماندګار)) تحت نظر وی در عرصه آموزش هنرمندان زن توانسته است شمار زیادی هنرمندان زن را رشد دهد. خاطره عزیزی، یکی از بازیگران موفق این گروه می‌باشد و از همین لحاظ، خاطره

فعالیت‌های هنری شان را انجام داده‌اند تا هنوز سه نمایش‌نامه این گروه نمایش یافته است. مدت سه سال است، امرالله احمدیان و گروه هنری‌اش، مصروف آموزش هنرمندان و ساختن نمایش‌نامه‌های تیاتری بوده اند که با برگزاری ورکشاپ آموزش فلمسازی از سوی کشور انګلستان در این ولایت، آن‌ها نیز اقدام به ساختن فلمهای سینمایی نمودند. فلمنامه ((یک شب زمستانی)) که توسط احمدیان نوشته شده است، از سوی ((نهاد بریتانیایی)) به عنوان بهترین فلمنامه معرفی شده است و فلم ((یک شب زمستانی)) در جشنواره بین‌المللی دیدار تاجکستان به نمایش نیز رفته است. بعد از ساختن این فلم، امرالله احمدیان، فعالیت‌هایش را بیشتر متمرکز به سینما می‌کند. وی دردو فلم هنری با کارگردانی الیاس اکرمی، به عنوان دستیار کارگردان کار کرده است. امرالله که هدف نهایی‌اش در کارهای سینمایی را رقابت با فلمسازان دنیا عنوان می‌کند، می‌گوید ((این کار هر چند مشکل است، اما با تلاش فراوان امکان‌پذیر خواهد بود)) او این بار در صدد تأسیس یک نهاد دیگر فلمسازی به نام ((راوی)) می‌باشد. البته فعالیت‌های گروهی این نهاد به گونه مقدماتی آغاز شده است می‌توان ((فلم جمیله)) را آغاز کار این گروه پنداشت. در این فلم، در کنار کسانی که در نقش دستیار، کارگردان، فلمبردار، نورپرداز، صدابردار، و دیگر

عزیزی به عنوان بهترین بازیگر زن در افغانستان شناخته شده است. این گروه با راه‌اندازی آموزش هنر سینما در بخش‌های مختلف، جوانان را جذب کرده و با همکاری مدیریت تیاتر ولایت هرات و آمریت امور جوانان این ولایت و همچنان به همکاری موسسه ((لینکلن امریکایی)) صنف‌های آموزشی را تشکیل داده و

فعالیت‌های تخنیکی کار کرده‌اند. در حدود ۱۵ بازیگر دختر و پسر که شامل گروه ((راوی)) می‌باشند نیز نقش دارند. فلم ((خشت خام)) به کارگردانی الیاس اکرمی به همکاری گروه ((راوی)) ساخته شده و امرالله احمدیان در نقش مرکزی ظاهر شده است.

**صمدعلی نوازش**

## د سندرغاړي کېدو لپاره باید د موسیقۍ اصول زده کړو

کلیوالي سندرغاړی اسد قاسمي داستاد قاسم بخش شاګرد دی؛ له ۲۲ کلونو راهیسې سندرې وایي دغه هنرمند ۱۰ کاله په کډوالۍ کې تېر کړل او خپل هنرته یې په جلاوطنۍ کې دوام ورکړ کله، چې نوی دولت منځ ته راغی بیایې دسندرو په ویلو پیل وکړ، کابو ۱۲ کاله یې دغه کارته دوام ورکړ او همدا اوس هم سندرې وایي

په دې اړه هېواد ورځپاڼې له نوموړي هنرمند سره مرکه کړې، چې تاسې درنو لوستونکو ته وړاندې کېږي

**پوښتنه دبه سندرغاړي کېدو لپاره څه باید وشي؟**

**ځواب** دبه سندرغاړي کېدو لپاره باید، چې دموسیقۍ اصول زده کړو، نو هغه مهال یوکس په هنرمند کېدای شي، چې به شعرولولي، دلوست اوسواد له نعمت څخه برخمن وي او دموسیقۍ د مشرانو اومخکېنانو درناوی وکړي سندرغاړی دنورو سندرغاړو دشعر ونو سره باید، چې بلدتیا ولري او دموسیقۍ هنر داستادانو

ترلارښوونې لاندې زده کړه وکړي

**پوښتنه** دتېروکلونو په پرتله دسندرغاړو شمېر اوس ډېر شوی، خو دسندرو اودموسیقۍ دالاتو په غږولو او اورولو کې ستونزې پرتې دي، دغه ستونزه څنګه لرې کېدای شي؟

**ځواب** په اوسنیو شرایطو کې هېوادوال اقتصادي ستونزې لري، ځانګړې دموسیقۍ زده کولو ښوونځي نشته خو دځینو مشکلاتو له مخې ځینې

سندرغاړي نه شي کولای، چې دغه ښوونځي ولولي، چې موسیقي، داستادانو ترلارښوونې لاندې زده کاندي، نوځکه ځینې هېوادوال دموسیقۍ له اصولو پرته، داقتصادي ستونزو دلرې کولو په موخه دموسیقۍ په مسلک کې داخل شوي دي کوم کسان چې په دغه مسلک کې ځانونه داخلوي باید، چې په دې مسلک کې ځانونه پوه کړي، چې په ټولنه کې دخلکو له خوا لقدیر او ومنل شي

**پوښتنه څنګه دې موسیقۍ ته مخه وکړه؟**

**ځواب** زما کورنۍ دکابل دخرابات په سیمه کې ژوند پرمخ بیوه، ما هم له ماشومتوب راهیسې له موسیقۍ سره مینه پیدا کړه، نوځکه موسیقۍ ته مې مخه وکړه له ۲۲ کلونو راهیسې کلیوالي سندرغاړی یم او دهېوادوالو دخوښیو په محفلونو کې سندرې وایم

**پوښتنه کوم خوانان، چې له موسیقۍ سره مینه لري او غواړي سندرغاړي شي، په دې لاره کې بریالیتوب ته درسېدولپاره کوم اصول باید ومني؟**

**ځواب** موسیقي دنورو هنرونو اوعلومو په شان خان ته اصول لري، سندرغاړي اړ دي، چې دموسیقۍ اساسات او اصول زده کاندي اوهم داخلاقو له پلوه باید چې پابندوی بل داچې موسیقي په نظري اوعملي توګه تمرین کړي، پرته له دغو لارو چارو څوک هنرمند اوسندرغاړی کېدای نه شي

**پوښتنه ستاسې پروړاندې کومې ستونزې پرتې دي؟**

**ځواب** په تېروکلونو کې دهېواد ولایتونوته، په ودونو اوخوښیو کې د سندرغاړي په توګه تلم، خو اوس دامنیتي ستونزو له امله په ټولیزه توګه سندرغاړي نشي تلای دهېواد امنیتي ځواکونه باید، چې ددغې ستونزې دلرې کولو لپاره پاملرنه وکړي، چې سندرغاړي وتوانیږي دهېواد ولایتونو ته دهېوادوالو دخوښیو په محفلونو کې دګډون په موخه سفر وکړي

**هېواد ـ نوري**



ښاغلی اسد قاسمي

## د ښځو دیارلس کلنې لاسته راوړنې دې خوندي شي

سوله او ثبات د ښځو لپاره یوه ځانګړې معنا، مفهوم او ارزښت لري او د څه باندې درې لسیزو جګړو او ناورینځوالي له کبله سولې او آرامۍ ته لېوال او سترګې په لاره دي، ځکه په دې تېرو کلونو کې یې د تېل شوې جګړې له کبله دژوندانه ټولې خوښۍ او نېکمرغۍ له لاسه ورکړې او کلونه، کلونه یې د جګړې ترخ زهر څکلي دي. د افغانستان د ښځو هیله او امید دا دی چې د دوی په ژوند کې مثبت بدلون راشي، د افغان ښځو او ولس ډېره مهمه او عمده غوښتنه دا ده چې د افغانستان د خلکو او د ښځو هغو ارزښتونو او لاس ته راوړنو ته دې درناوی وشي، کوم چې په تېرو ۱۳ کلونو کې یې ترلاسه کړې دي. له مخالفینو سره د روغې جوړې خبرو، د مدني ټولنو او هم ښځو چې د ښځو د حقونو د ساتنې په خاطر کار کوي: الدېښنه راپاڅولې او په وار، وار یې د بېلابېلو غونډو له لارې څرګند کړې په ترڅ کې له حکومت څخه وغوښتل کوم کسانو څخه چې په دې کړه کې په یو ډول نه یو ډول دخپل غوښتنې چې په دې اړه کې د افغان ښځو هغه لاسته راوړنې اوحق له پوښتنې

لاندې را نه ولي چې د تېرو کلونو په ترخ کې یې د ډېرو ستونزو په ګاللو او د قربانیو په ورکولو ترلاسه کړې دي. که په هېواد کې د ښځو تېر تاریخ ته ځیر

سیاسي، ټولنیزو، روغتیايي، ښوونې او روزنې، سوداګرۍ او نورو برخو کې په خپل کار او یې ساري ژبار سره د ښځې د اېښودلو ځای پیدا کړي چې له نېکه

شو، نو دا څرګندېږي چې دیارلس کاله مخکې ښځې له ښوونې او روزنې، روغتیايي آسانتیاوو، سیاست او په ټولیزه توګه په ټولنیزو چارو کې له هرډول ونډې اخیستو څخه بې برخې وې، خو د پخواني جمهور رئیس حامد کرزي د حکومت په راتګ او په هېواد کې د بېلابېلو مدني ټولنو له فعالیت سره سم، زموږ خویندو هم په ټولنیزو چارو کې په ګډون سره خپل ګټورتوب څرګند کړ، په تېرو لسو کلونو کې یو شمېر ښځې په دې وتوانېدې چې د ټولنې په بېلابېلو

مرغه ډېرې ښې هم وځلېدې. له بلې خوا په هره دوره ټاکنو کې د رای ورکوونکو ښځو ګډون، په پارلمان کې د ښځو ۲۵ فیصده شتون او د ټولنیزو چارو په بېلابېلو برخو کې د دوی فعال او خوځنده ګډون د یوې نېکمرغه راتلونکې زېرې ورکوي یو شمېر ښځې په دې باور دي چې سوله د افغاني ټولنې ترټولو ارزښتناکه او سپېڅلې غوښتنه ده چې باید ډاډمنه شي. که ښځې په دې وپوهېږي چې د سولې راوستلو لپاره د هغوی حقونه او لاسته

راوړنې تر پښو لاندې کېږي، نو په وړاندې به یې ودرېږي ښځې د ټولنې نیمايي برخه جوړوي او حکومت هم نشي کولی له دې سترګې پټې کړي، نو کله چې موږ ښځې د ټولنې نیمايي برخه جوړوو، نو باید حکومت زموږ هیلو او غوښتنو ته پاره کېږدي. د ښځو نظر، د ښځو پرېکړې او حضور باید نور له سمبولیکې او فیشني بڼې څخه را ووځي او په رښتیني بڼه په سیاسي او ټولنیز ډګر کې په ګورتوب سره راڅرګندې شي. اوس نو افغان ښځې هغه د دیارلسو کلونو پخوا ښځې نه دي، بلکې ډېرې فعالې او خوځنده دي، خو د دوی اندېښنه له دې کبله ده چې وروسته تر دې او د دې مصالحې په راتلو سره یو ځل بیا د کورونو د څلورو دېوالونو بندیوانې نه شي، ځکه تېرې تجربې دا په ګوته کوي، هغه کسان چې له اوسني دولت سره په مخالفت کې واقع دي، ټل یې ښځې ته د دویم جنس په سترګه کتلي او په ټولنیز او سیاسي ډګر کې د دوی د کار او فعالیت کولو مخالف دي او نه غواړي ښځه په کورنۍ او ټولنیز چاپېریال کې د یوه مستقل یا ځانګړې شخصیت په توګه وپېژندل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سپورټ نړۍ

## د کرېکټ بورډ اداره د دولت ځانګړي پاملرنې ته اړتیا لري

د افغانستان د کرېکټ بورډ عمومي رئیس نسیم الله دانش او ځینې اداري مسئولینو د افغانستان د اسلامي جمهوریت له دوهم مرستیال سرور دانش سره په کتنه کې د کرېکټ بورډ عمومي رئیس نسیم الله دانش له د ورکول شوي دندې مبارکي وویله او دوی له بې د برياليتوبونو غوښتنه وکړه. دانش د کرېکټ لاسته راوړنې د ټول ملت لاسته راوړنې وبللې او په افغانستان کې بې د نورو سپورټونو ترمنځ دغه ورزش ته لارې راوړي وبارونه او خوشحالي بې ښارې وبللي. لوموړی د نوې مدیریت له کاري پیله ستاینه وکړه او وبې ویل موږ باور لرو چې د نوې مشرتابه د غوړه پلانونو او کوښو اړاخو پر مټ به د کرېکټ بهیر له نوبو رنګونو ځلښه لېږ شي. لوموړی د کرېکټ بورډ چارواکو ته وویل چې: د کرېکټ بورډ اداري ته ټل ځموږ د دفتر دروازې پر مخ خلاصې دي او د خپل دفتر رئیس ته بې سپارښتنه وکړه چې لږ ...

هر څه ورانه‌ي به د د کرېکټ بورډ اداري پورې د اړوندو چارو او پرانګنوونو له لومړیتوب ورکوي. دوهم مرستیال سرور دانش د افغانستان کرېکټ بورډ عمومي رئیس ته ووبل چې: ځوږ له د کرېکټ بورډ غوښتنو له لومړیتوب ورکړي او ...

زیاته بې کړه چې: د کرېکټ بورډ اداره دې خپلې غوښتنې په لیکلي ډول د لوموړي دفتر ته وسپاري: چې د لیکلي موږ په ژر کې اجراء شي. د کرېکټ بورډ عمومي رئیس نسیم الله دانش ووبل چې: موږ په هوډمنو کامونو نو لیوږ پېل اخیستي دي. زموږ کاري لومړیتوبونه به د ...

وي دانش ووبل چې: موږ دغه چې کرېکټ لري او دغه ځینې غوښتنو لاندې په ...

## انګلینډ خپلې لوبډلې ته نوی مشر وټاکه

انګلینډ د روان یو ورځنۍ نړیوال جام سیالیو لپاره د لوبډلې پخوانی لوبډل مشر الیسټر کک لرې او پر ځای یې موږګان د ملي لوبډلې لوبډل مشر وټاکه. الیسټر کک د انګلینډ یو له پیاوړو لوبغاړو څخه دی. خو وروستی ورځې د ده لپاره د کرېکټ له نظره ښې ورځې نه وې. لوسوري په تېرو سیالیو کې ډېره خرابه لوبه وکړه چې په همدې اساس د انګلیډ کرېکټ بورډ د لوموړي پر ځای موږګان د ملي لوبډلې د نوي لوبډل مشر په توګه معرفي کړ. په روانه میاشت د انګلینډ او سریلانکا لوبډلو ترمنځ ۷ یوه ورځنۍ لوبې وشوې په دغو لوبو کې د انګلینډ لوبډلې ۲-۵ سره د سریلانکا

په ورانډې ماتې خوړه دا په داسې حال کې ده چې کک د انګلینډ لوبډلې لوبډل مشري په غاړه درلوده. موږګان هم په ۲۰۱۲ زیږدیز کال کې لوبډل مشري په حواب کې اېر پولېو شوره ریکارډ لري. لوسوري له دې مخکې د ۹۰ یو ورځنیو سیالیو لپاره لوبډل مشر ټاکل شوی او په دغو



د توپ وهنې په برخه کې یې له دې ځلېدلي او د منځنو اوسط یې ۲۵.۲۵ دی. خو ۱۸ کلن موږګان دځیلي لوبو کې یې ۲۲۷ منډې جوړې کړې وې او د منځنو جوړولو اوسط یې ۱۲.۷۱ و.

## د پاکستان مشهور لوبغاړی شاهد اپریدی کرېکټ پرېږدي

شاهد اپریدي د پاکستان لپاره ۳۸۹ نړیوالې لوبې کړې. ۷۸۷۰ منډې یې کړې او ۳۹۱ مخالف لوبغاړي یې هم سوځولي دي. د پاکستان د کرېکټ د ملي لوبډلې والی لوبغاړی شاهد اپریدی وایي د کرېکټ د ۲۰۱۵ کال د راروان نړیوال جام څخه وروسته به یو ورځني نړیوال کرېکټ پرېږدي. د پاکستان دغه پېښتون لوبغاړی شاهد اپریدی د خپلې اېزې لوبې له کبله په پاکستان او نړۍ کې ډېر شهرت لري. ده په خپلې رسمي لوېښالپې کې له کرېکټ څخه د خپلې استعفا خبر خپور کړی دی. اپریدي په یوولو کې ... وړکي ... ورځنۍ لیدلي، ... خپل وخت سره "کرېکټ" پرېږدم. اپریدي دا خبره ... د پاکستان او نیوزلینډ ترمنځ له یو ورځنیو لوبو وروسته کړې ده، هغه د نیوزلینډ خلاف د پاکستان کپتان و، څکه چې مصباح الحق ټپي شوی و او لوبه

یې کولې نه شوه سره له دې چې شاهد اپریدي د نیوزلینډ خلاف ډېر ښه وځلېد په پنځو لوبو کې یې ۲۰۵ منډې او نهه مخالف لوبغاړي وسوځول. خو نیوزلینډ لوبو دغه پړاو ګټلی. دوه ګټانه د شاهد اپریدي د استعفا خبر د کرېکټ بوي په خپلې لومړنۍ نړیوالې لوبې کې د مشري کوي ۳۵ کلن اپریدي تر دې دمه د پاکستان لپاره ۳۸۹ نړیوالې یوه ورځنۍ لوبې کړي دي ده په دغو لوبو کې ۷۸۷۰ منډې کړې او ۳۹۱ لوبغاړي یې هم سوځولي دي. اپریدي په ۱۹۹۶ کال کې

مشهوري وياني، کرېکټ انفو هم خپور کړې دی. خو شاهد اپریدي به د ۲۰ اوړونو نړیوالې لوبې کوي، دي د ۲۰ اوړونو په لوبو کې د پاکستان د لوبډلې سریلانکا پر خلاف په ۳۷ توپونو سل رنزونه وکړل او یو نړیوال ریکارډ یې جوړ کړ. د اپریدي د تېزې لوبې دغه ریکارډ ۱۷ کاله وروسته، د ۲۰۱۴ کال په جنوري کې د نیوزلینډ کوري اېنډرسن مات کړ. لوسوري په ۲۰۱۰ کال له ټسټ لوبو استعفا وکړه او په ۲۰۱۱ کال بیا په نړیوال جام کې د پاکستان د لوبډلې مشر و له شک پرته چې د کرېکټ له یوې ورځنیو نړیوالو لوبو د شاهد اپریدي د استعفا خبر به د هغه ډېر مینوال خواشیني کړي. خو دی په خپله وایي چې غواړي خوانانو ته چانس ورکړي. ده په خپل لوبو کې لیکلي: زه ۱۸ کلن هلکی او خوبونه د پاکستان لپاره دالسي دي. خو اوس باید نوبو استعدادونو له چانس ورکړل شي. اپریدي ... مینوالو منته کړي چې دی یې ستایلی او د برلو دستاوې یې ورته کړي دي. د ۲۰۱۵ کال نړیوال جام په فبرورۍ کې په استرالیا او نیوزلینډ کې کېږي چې په دې کې ۱۲ لوبډلې به ګډون وکړي او دا به یې سیالي کوي هغه دا ... نړیوال ... دی.

## ریال ماډرېډ د شخصي لوبډلو نړیوال جام وګاټه

د هسپانیې پېژندل شوې شخصي لوبډلې ریال ماډرېډ د ارجنټاین شخصي لوبډلې سن لورنزو له د ۲-۰ سره ماتې ورکړه او د شخصي لوبډلو نړیوال جام یې وګاټه. ریال ماډرېډ دغه لوبه د راموس او ګرت بېل دوه ګولونو په مرسته وګټله خو ځينې لوبه کې د دې لوبډلې پېژندل شوي ستوري کریستیانو رونالډو په ګول وهلو بريالي نشو دغه لوبه کې له پیله د ریال ماډرېډ برینا بکاریدله او دغه لوبډلې په اسانۍ سره ارجنټاین لوبډله له مخې لرې کړه او یو بل امتیاز یې په خپل لوم د فوټبال په تاریخ کې ثبت کړ. څنګه چې هیله کېده دغه لوبه د ریال ماډرېډ په ګټه پیل

شوه او د سن لورنزو لوبغاړي د غیر قانوني کړنو په مرسته غوښتل د دغو حملو مخه ونیسي چې د لوبې په لومړیو شل دقیقو کې د دغې لوبډلې دوو لوبغاړو ته ژېړ کارت ورکړل شو. د لوبې لومړی ګول سرخیو راموس وواهه دغه ګول د لوبې کرنر وس د ... کولې پاس په مرسته ووهل شو. د لوبې د لومړي نیمایي په وروستیو شېبو کې د ریال ماډرېډ لوبډلې بیاوړې لوبغاړي مارسلو ژوبل شو چې د لوبې روزونکي د لوبې په لومړۍ نیمایي کې د خپلو لوبغاړو لومړۍ لیادله ترسره کړه او د مارسلو پر ځای یې کوینټراو میدان ته ... د لوبې په دوهمه نیمایي کې ژر ژر دغه لوبډله د ګرت بېل په مرسته په دوهم ګول وهلو بریالی شوه چې دغه ګول د ولږې په مرسته ووهل شو. د لوبې تر پایه د سن لورنزو لوبډلې په ګول وهلو بریالی نشوه او دغه لوبه یې د دوه ګولونو په توپیر د ریال ماډرېډ لوبډلې ته وبایلله.

## سویلي افریقا د ویسټ انډیز لوبډلې ته په ستر توپیر ماتې ورکړه

د لیندۍ په نهه ویشتمه د سویلي افریقا او ویسټ انډیز لوبډلو تر منځ لومړۍ ټسټ لوبه پای ته ورسېده. دغه لوبه سویلي افریقا په ۲۲۰ منډو او یو اننګ وګټله. دغې لوبې پېښه ویسټ انډیز لوبډلې لوبډل مشر ګټلې وه او سویلي افریقا ته یې د توپ وهنې بلنه ورکړې وه. سویلي افریقا د لوبې په لومړي پړاو کې یوازې ۵ لوبغاړو په له لاسه ورکولو سره ۵۵۲ منډې جوړې کړې. په دې لوبه کې هاشیم امله ۲۰۸ او ډي ویلیرز ۱۵۲ منډې جوړې کړې په داسې حال کې چې ډیل د ۱۰۱ منډو په جوړولو سره ناسوځېدلی پاتې شو. د ویسټ انډیز لپاره روچ او بین دوي دوي وېکټې او کوټریل یوه وېکټه واخیستله. ویسټ انډیز لوبډلې د لوبې په لومړي پړاو کې د یو ستر هدف په تعقیب توپ وهنه پیل کړه خو د ویسټ انډیز توپ وهونکي هم د توپ اچوونکو په خیر نه لوبه ونکړه. ویسټ انډیز خپل ټول لوبغاړي له لاسه ورکولو سره ۲۰۱ منډې جوړې کړې. د سویلي افریقا لپاره فلینډر ۴، مورکل ۳، اېبټ او اېلګر یوه یوه وېکټه واخیستله د لوبې په دوهم پړاو کې سویلي افریقا له توپ وهنې وروسته بیا هم د ویسټ انډیز لوبډلې ته د توپ وهنې بلنه ورکړه خو ویسټ انډیز دوهم وار توپ وهنه کې خپل ټول لوبغاړي له لاسه ورکولو سره ۱۳۱ منډې جوړې کړې او په دې ډول د ویسټ دغه لوبه یې د ۲۲۰ منډو او یو اننګ په ستر توپیر وبایلله. په دوهم پړاو توپ اچونه کې د سویلي افریقا لپاره سټین ۴، مورکل ۲ او فلینډر یوه وېکټه واخیستله.

## استرالیا بیا هم هندي لوبډلې ته ماتې ورکړه

د لیندۍ په نهه ویشتمه، د استرالیا او هندوستان لوبډلو تر منځ دوهمه ټسټ لوبه پای ته ورسېده په دې لوبه کې استرالیايي لوبډلې د هندوستان لوبډلې ته په ۴ وېکټو ماتې ورکړه. ددغې لوبې پېښه هندي لوبډل مشر ګټلې وه او د توپ وهنې پرېکړه یې کړې وه. هندوستان خپل لومړی وار توپ وهنه کې خپل ټول لوبغاړي له لاسه ورکولو سره ۲۰۸ منډې جوړې کړې. د هندوستان لپاره د ویجي ۱۴۴ او رحاني ۸۱ منډې د یادولو وړ دي. د استرالیا لپاره هزلووډ ۵، لیون ۲، مارش او واټسن یوه یوه وېکټې واخیستې. استرالیايي لوبډلې دخپلو لومړی وار توپ وهنې کې خپل ټول لوبغاړي له لاسه ورکولو سره ۵۰۵ منډې جوړې کړې په لومړي وار توپ وهنه کې سمېټ ۱۳۳، جانسن ۸۸ او سټارک ۵۲ منډې جوړې کړې. د هندوستان لپاره شرما ۳، یادف ۳، اشوین او ارون دوي دوي وېکټې واخیستې. هندوستان په دوهم وار توپ وهنه کې خپل ټول لوبغاړي له لاسه ورکولو سره ۲۲۴ منډې جوړې کړې. دغه هدف یاتلو کې د دون ۸۱ او پوجارا ۴۳ منډې ډېره مرسته وکړه. دوهم وار توپ اچونه کې د استرالیا لپاره جانسن ۴ او هزلووډ، سټارک او لیون دوه دوه وېکټې واخیستې. استرالیا یوازې ۶ لوبغاړي له لاسه ورکولو سره ۱۳۰ منډې جوړې کړې او دغه لوبه یې د هندوستان لوبډلې ته په ۴ وېکټو ماتې ورکړه. د هندوستان لپاره شرما ۳ او یادف دوه وېکټې واخیستې.

## کرېکټ بورډ په کاري برخه کې د نویو پرمختګونو زېری ورکوي

د افغانستان د کرېکټ بورډ اداري د غونډو په تالار کې د کرېکټ بورډ د کارکوونکو د اداري په غونډه کې نسیم الله دانش د کرېکټ بورډ کارکوونکو له د نویو پرمختګونو او لاسته راوړنو زېری ورکړ او د هري څانګې له مسوول څخه یې د ۲۰۱۵ زیږدیز کال لپاره د بشپړ کاري پلان غوښتنه هم وکړه. دانش د کرېکټ بورډ کارکوونکو ته ووېل چې، زه ستاسې د ټیم یو غړی یم او موږ به په ګډه سره د لاسته راوړنو لپاره هلې ځلې کوو. لوسوري پر دفتري ډسپلین او ټینګار وکړ او له لوبو یې د نویو نظمي ...

## کینیا د ماتې خوړلو لړۍ ته ادامه ورکړه

د لیندۍ په نهه ویشتمه د پاکستان الف او کینیا ملي لوبډلو تر منځ شپږمه یوه ورځنۍ لوبه وه په دې لوبه کې بیا هم کینیا په ۱۰۸ منډو ماتې وخوړه د لوبې پېښه پاکستاني لوبډل مشر وګټله او توپ وهنې پرېکړه یې وکړه. پاکستاني لوبډلې په خپل وار خپل ټول لوبغاړي له لاسه ورکولو سره ۳۲۹ منډې جوړې کړې. چې مختار احمد ۶۸ منډې د یادولو وړ دي په دې لوبه کې کیناني توپ اچوونکي ته لوبه وکړه او د پاکستاني لوبغاړو له مننو جوړولو اجازه ونکړه په لوبه کې لیهیمبا اوډیامبو، نیلس اوډیامبو، جیمز انګو چې او شیم اینګو چې دوه دوه وېکټې او بیمجي یوه وېکټه واخیستله. په ځوابي توپ وهنه کې کیناني لوبډلې خپل ټول لوبغاړي له لاسه ورکولو سره ۲۱ منډې جوړې کړې او دغه لوبه یې په ۱۰۸ منډو وبایلله. د پاکستان لپاره ضیا الحق ۳ او میر حمزه، احمد جمال او سعید اجمل دوه دوه وېکټې واخیستې.

## د کابل د کرېکټ اتلولي د تایمنیو لوبډلې وګټله

په کابل کې د کرېکټ د دوولسو لوبډلو ترمنځ لوبې د تایمنیو لوبډلې په اتلولۍ پای ته ورسېدې. په پایلوبه کې پغمان لوبډلې په ټاکلو شلو اوورونو کې د ۱۲۹ منډو هدف وټاکه. چې تایمني لوبډلې په ورستي شلم اوور کې یوه وېکټه پاتې بریالي لوبډلو د کرېکټ د تخنیکي مرستیال تاج ملوک خالد، د کرېکټ بورډ د سرپرست اجرایوي رئیس دوست محمد نظري او د کابل ولایتي شورا د غړي رحیم الله مجاهد او یو شمېر نورو مشرانو له لوري جایزې وېشل شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اقتصاد او سوداګري

## د چین او افغانستان ترمنځ سوداګرۍ پراختیا موندلې ده

داقتصادي پرمختګونو نړیوال تندارتون په دې وروستیو کې دچین په جمهوریت کې پرانیستل شو په دغه تندارتون کې دنړۍ د بېلابېلو هېوادونو استازو ګډون درلود، چې دافغانستان داقتصادي پرمختګونو دتندارتون رئیس هم دغه تندارتون ته ور بلل شوی و په دې اړه هېواد ورځپاڼې دسوداګرۍ اوصنایعو چارو وزارت داقتصادي پرمختګونو دنړیوال تندارتون له رئیس الحاج محمد امین تره خیل سره مرکه کړې، چې درنو لوستونکو ته وړاندې کېږي

**پوښتنه دچینا ایروشیا سوداګریز تندارتون دپرانستلو بهیر څنګه و؟**

**ځواب** دچین او افغانستان ترمنځ سوداګرۍ پراختیا موندلې ده. دغه نړیوال تندارتون هرکال دسوداګرۍ د پراختیا ، ودې اوپانګونې اودچین هېواد دسوداګریزو اړیکو دغښتلي کولو په موخه دچین جمهوریت دارو مچې په ښار کې جوړېږي. دغه تندارتون د ۲۰۱۴ زېږدیز کال دسپتمبر په لومړۍ په داسې حال کې پرانیستل شو، چې دنړۍ دبېلابېلو هېوادونو رسمي دیپلوماټانو، دچین دسوداګرۍ چارو وزارت مرستیال، دچینا دسوداګریز تندارتون سکرتر جنرال، دسنکیانګ ولایت والي اوهمدارنګه په چین کې دافغانستان استوګن سفیر ښاغلي فراهي هم ګډون درلود

په دې سوداګریز هال کې ګډون کوونکو استازوته دافغانستان دتولیداتو د کیفیت، دتولید سیمه او بهرنیو هېوادونو ته دکلنې کچې دصادرولو بهیر وړاندې شو او همدارنګه دقوانینو، د سوداګرۍ د مقرراتو، پانګونې، آسانتیاوو اوسوداګریزې پانګونې په اړه پوښتنو ته ځوابونه وویل شول



ښاغلی الحاج محمد امین تره خیل

**پوښتنه په دغه نړیوال تندارتون کې دافغاني سوداګرو ونډه څنګه وه؟**

**ځواب** کومې سوداګریزې غرفې چې په اړوند هال کې دافغانستان له لورې پرانیستل شوې وې له کیفیت څخه ډکې غرفې دګډون کوونکو سوداګرو لپاره چمتو شوې وې په دغه نړیوال تندارتون کې ۹۰ سلنه سوداګریز توکي چې تنداري ته وړاندې شوي وو وپلورل شول او تندارتون لاسته راوړونکي وبلل شو او ددې په ترڅ کې دهېواد دسوداګرو

هېوادونه دلوېدیځو هېوادونو سره نښلوي دغه پروژه دتاریخ دېره ګټوره پروژه ارزول شوې ده

داقتصادي پرمختګونو دتندارتون رئیس دیوې بلې پوښتنې په ځواب کې وویل دچین جمهوریت دقوانینو اومقرراتو پربنسټ دچین دسنکیانګ ولایت دشرکتونو اتحادیه ، دودې ، ساختمان، دپراختیایي کمربند اوداقتصادي پرمختګ دنده په چین کې لري او د ۲۰۰۰ کمپنیو په شمېر په کې تضمین شوي دي اوټولې اقتصادي موعګانې لکه ساینس،پوهنه ، فرهنګ ، روغتیا ، سپورټ اودمالي چارو مشرې کوي دغه اتحادیه ارزښتمن تاریخي رول داقتصادي پرمختیاپه برخه کې لري اودکرنې ،صنعت، ترانسپورټ،سوداګرۍ ، مراسلاتو اوملي اقتصادي ودې ملاتړ یې هم کړی دی او دچین داقتصاد دپراختیا لامل هم شوی دی او دهمدغو چارو په پایله کې چین دنړۍ دیوستر ځواک په توګه بدل شوی دی

**پوښتنه افغاني لوري دچین دکمپنیو له اتحادیې سره دسوداګرۍ دپراختیا لپاره څه وکړل؟**

**ځواب** دافغاني لوري استازې دسنکیانګ ولایت دکمپنیو له اتحادیې سره په اړیکه کې شول اودتجربو ، دطبیعي سرچینو دمطالعاتو اوله هغو څخه ګټه اخیستنه،

اودچین اونورو هېوادونو دکمپنیو ترمنځ دسوداګریزو توکو دتبادلې په تړاو تفاهم لیک وشو اوګډون کوونکو هېوادونو دسوداګریزو اړیکو پرسرټینګارو وکړ

ده وویل دچین داقتصادي رفورم دټولنې مرستیال فن جنګ خبرې وکړې او دچینا،ایروشیا داقتصادي پرمختګ لپاره یې ټینګار وکړ او دنورو همکاریو زمینه یې هم وکړه

دسکرتریت دبورډ رئیس ژنګ چوغونګ ، دچین ایروشیا اونورو هېوادونو استازو په خپل وار سره خبرې وکړې

**پوښتنه دوربینمو لارې دپیا پرانستلو په تړاو څه وشول؟**

**ځواب** دوربینمو داقتصادي کمربند دغونډې په اړه اویه چین کې دګډون کوونکو هېوادونو دسفیرانو اودیپلوماټانو په ګډون دوربینمو داقتصادي پرمختګ لپاره ، چې دسوېلي آسیا او دمنځنۍ آسیا

دسوداګرۍ وده اوپراختیا او په ټولو سوداګریزو برخو کې دټولنیزې سوکالۍ څخه دګټې پورته کولو لپاره بوټیم پایوه اداره دسوداګرۍ وزارت په چوکاټ کې دکاریوهو او متخصصو کسانو اوتجربه لرونکو په شتون جوړه کړې او داقتصادي کمربند دکمپنیو داتحادیې دمطالعاتو په اړه له چین سره اړیکې ټول شوې دي، چې دغه بهیر به د هېواد په اقتصادي پرمختګ کې دپاملرنې وړ پایلې له ځان سره ولري او موږ به وشوکولای خپل دردېدلي ولس ته دخدمت جوګه شو دچین جمهوریت دسنکیانګ ولایت سوداګریز مارکیټ دافغاني سوداګرو لپاره پراختیا موندلې ده اود اقتصادي راکړې ورکړې په بازارتو دشوی او دافغانستان دصادراتو کچه هرکال لوړه شوې ده

هېواد _نوري

دنندارتون دپرانستلو غونډه دچین جمهوریت دملي سرود په غږولو سره پیل شوه په جوړوشویو مراسمو کې دچین دسوداګرۍ وزارت مرستیال، دسنکیانګ والي اودچینا ایروشیا تندارتون سکرتر جنرال هرا،خیزې خبرې وکړې اودسوداګرۍ، دارنکو په ټینګولو، اقتصادي همکاریو، پانګونې او دچین دصادراتو او وارداتو دپراختوالي په اړه یې ټینګار وکړ اوګډون کوونکو استازوته یې ډاډ ورکړ،چې دچین هېواد به دسوداګرۍ دښتلي کولو په تړاو له نورو هېوادونو سره له هر راز هلوځلو څخه ډډه ونه کړي اوپه دې لاره کې به سوداګروته آسانتیاوې برابرې کړي ورسته له دې ګډون کوونکو استازو اومیلمنو له تندارتون څخه لیدنه وکړه اوجوړ شوی هال دافغانستان دسفیر فراهي له خوا په پیخن کې پرانستل شو

## ((کرنې ته دې پراختیا او پاملرنه...

چې دغه وزارت د هغو په رڼا کې د کرنیزو پروګرامونو او پروژو په پرمخ بیولو کې استفاده وکړي د کرنې او اوبو لګولو وزارت سرپرست وویل افغانستان یو کرنیز هېواد دی چې په سلو کې نږدې ۸۰ وګړي یې په کرنې او مالدارۍ بوخت دي او د مالي امکاناتو د رامنځته

کېدو او د کرنې د بنسټونو د جوړولو په صورت کې به دغه وزارت وکولای شي د دولت زیاته بودجه تمویله کړي په دغه کنفرانس کې یو شمېر ماهرانو د هېواد د کرنې حالت او له ستونزو څخه د وتلو لارې چارې په خپلو پیشنهادونو کې وړاندې کړې باختر

## په نړیوالو بازارونو کې د تېلو بیه بیا....

زیات کمښت تجربه کړې وه؛ په دې وروستیو کې لږ څه لوړه شوه خو د روانې اوونۍ د معاملو په پیل کې بو خل بیا را ټیټه شوه په منځني ختیځ کې د تېلو یوشمېر تولیدونکو د یکشنبې په ورځ په ابوظبي ښار کې د کنفرانس په ترڅ کې د بیو د لوړتیا په مقصد د تولید له هر راز کمښت سره مخالفت وکړ. د سعودي عربستان د تېلو وزیر علي النعیمي وویل که څېرې د

(اوپک) غیر غړي هېوادونه وغواړي تولید کم کړي، موږ یې هرکلی کوو خو عربستان به دخپل دتېلو تولیدکم نه کړي. د عربي متحدو اماراتو د تېلو وزیر سهیل المزروعي هم څرګنده کړه چې اوپک یا د تېلو تولیدوونکي ستر شل هېوادونه به د تېلو د بازار د پیاوړتیا لپاره هېڅ اقدام ونه کړي.اوپک د نړۍ د تېلو دریمه برخه تولیدوي

## پاکستان ۵۰۰ افراطیان ...

د دغه یرغل مسوولیت د تحریک طالبان پاکستان ډلې پرغاړه واخیست او وې ویل چې په دې سره یې پر قبایلي سیمو د پاکستان د پوځ د عملیاتو غچ واخیست. د پاکستان پوځ د ۲۰۱۴م کال له دوبي راهیسې له افغانستان سره په سرحدي قبایلي سیمو کې د وسله والو طالبانو او القاعدې پرضد عملیات پیل کړي

دي. د دغه هېواد د پوځ د معلوماتو له مخې په دغو عملیاتو کې تر اوسه پورې ۱۷۰۰ یاغیان وژل شوي دي. خو ډېر کسان پر دغو عملیاتو نیوکې کوي او وایي ،چې ګنې دا عملیات د ترهګرۍ او اورېکي پرضد نه بلکې د پاکستان د سیاسي مخالفینو پرضد دي ،چې له پنجابه ازادي غواړي

## افغانان خپلې لاس ته راوړنې د طالبانو...

**باکویسون** دغه جمله چې فیلډ وزیر، پیټر شتروک په هغه وخت کې کړې وه، استعاري معنې لري. هغه په دې اړه اشاره هم پېښو ته وه چې په هغه وخت کې د لوېدیځو هېوادونو په سرکونو کې رامنځ ته شوې وې، لکه په واشنګټن، نیویارک او یا وروسته په لندن او مادرید کې او اوس هم په دې ورځو کې د لوېدیځې نړۍ په ډېرو ښارونو کې سرې وینې. د هغه له دې جملې څخه هدف دا ؤ چې زموږ د ګروپ د سولې او امنیت څخه هغو خلکو کې دفاع نه کېږي،

چېرته چې دغه حملې سره رسول کېږي، لکه هغه چې دغه حملې طرحه او پلان کېږي. دا دلیل ؤ چې موږ افغانستان ته تللو او ۱۳ کاله دلته پاتې شوو. په همدې وجه موږ له افغانانو سره مرسته کوو. موږ غوښتل لږ تر لږه چې یا د افغانستان په خاوره کې یو تروریستي رژیم رامنځ ته نه شي.

**دویچه ویله** ښاغلي باکویسون،تاسې د آلمان د پوځ د یو منصبدار او اوس د ایساف د قوماندان د مرستیال په توګه له څه ډول یو احساس او انګیزې سره له دې هېواد سره مخه کوئ؟

**باکویسون** زه لا تراوسه له دې هېواد سره مخه په

نه کوم. زه به د «ډونکړن ملاتړ» ماموریت په چوکاټ کې شپږ میاشتې نور هم په دې دنده کې پاتې شم او د ایساف د قوماندان د مرستیال په توګه به له دغه ماموریت سره ملتیا ولرم. زه له دې مخکې په ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ کلونو کې هم دلته وم. زه د زړه له کومې او خوښۍ سره بېرته افغانستان ته راغلم، ځکه د دې هېواد خلک پر ما ګران دي او د دوی لپاره د سولې پېژوونه لرم. زه هیله من یم چې دا هېواد وروسته له ۳۰ کلونو جګړې څخه بالاخره ولوالیږي چې د دوزژیانۍ ته ټول کړي، بغاوت ته د پای ټکی کېږدي او دولتي عادي ژوند له بېرته ستون شي.زما لپاره دا یو ډېر به او بنایسته پاداش دی چې د هغو ماشومانو چې ښوونځیو ته ځي او د دې هېواد راتلونکي دي، سترګو ته ګورم. زه د زړه له کومې افغانستان کې یم او د دې هېواد دخلکو لر خنګ ولاړ یم او غواړم د زړه له کومې له هغوی سره مرسته وکړم. کله چې تیر ځل بېرته خپل هېواد ته ستون شوم، نو د افغانستان یوه کوچنۍ خاطره مې له ځان سره یوړه او دا ځل د راتلونکي کال د جون په میاشت کې به هم دغسې یوه خاطره له ځان سره یوسم

## له افغانستان سره د نړیوالې ټولنې له پوځي...

هېوادونو مرستې دنړیه خیر لولې اوهغه له خپلو شخصي ګټو بسکار کړې اویا دهغو دګټو په برخه کې دنیر حکومت په خیر له ناغېړیو اوفسادونو څخه کاروانخلي اوافغاني چاروا کي له خپنو بهرنیو اوکورنیو شرکتونو، کمپنیو، انجوګانو، قراردادیانو اوپیکه دارانو سره دناوړو جوړښتونو او معاملو له مخې دمرستندویو هېوادونو مرستې لوټ تالان کړې اوپه خپلو جېبونو کې یې واچوې او خانونه یې پرې ورسوی. دافغانستان جمهور رئیس په تېرو دیارلسو کلونوکې په افغانستان کې ددغه ډول زیاتو فسادونو دشتون په اړه دلندن اوناټو دغونډو دبرخه والو هېوادونو دخپنو استازو د خرګندونو په غبرګون کې په کلکه دا ومنه وکړه چې له دې وروسته به دفاسدانو ، زورواکانو، فاسقانو اوفاسدانو په ګډون هېڅ سپین سترګي، سرزوري او خپلرې زورواکي اولوټمارانو ته دا اجازه ورنه کړي چې له افغانستان سره دمرستندویو هېوادونو دمرستو لوټولو ته زړه به کړي اوپه خپلو شخصي جېبونو کې یې واچوي اوکه نه نو دکابل بانک دلوټمارانو، فاسدانو اوفاسقانو په څېر له برخلیک سره به مخ رسوا اوپرېښې شي اوپرخپلو جزاګانو به ورسېږي په تیرودیارلسوکلونوکې په هېواد کې داسې زیاتوفسادونو ته په پام سره دادیادولې وړده چې غاصبانو په تیرودیارلسو کلونوکې له دوومیلیونوجریبو څخه زیات دولتي اوشخصي ملکیتونه غصب کړي دي، لوټمارانو دکابل بانک تهه سوه ملیونه امریکایي ډالره اختلاس اوغلا کړي دي، دزر اوزور خاوندانو اوزور واکانو دیوولیم ملیارددوافغانیو برابر دولتي بریښنا غلا کړې ده اوهم یې ترځنګ دمرستندویو هېوادونو نږدې اته ملیارده امریکایي ډالره مرسته هم بې ځایه لګولې ده چې له نښه یې توکیو

سره دمبارزې له پاره شوې وه اوهم دهېواد په دولتي ادارو کې داصلاحاتو دراوستلو اودملکي خدمتونو دسرله رسولو په برخه کې دنړۍ دمرستندویو هېوادونو اووه اتیم ملیارده امریکایي ډالره په سمه اومعقوله اوشفافه توګه نه دي لګېدلې اوهم ترځنګ یې له افغانستان سره نړیوالو ملیاردو امریکایي ډالرو پورې دامریکا پراختیایي او بشري مرستې په شفافه توګه نه دي لګېدلې ، همدالامل دی چې له ډېره پخه مرغه ملتي پانګې یې هم له دې رافغارلې اودغه ډول زیاتره مرستې دوخت دفاسدانو اوفاسقانو په جېبونو کې لوېدلې دي، دنګې دنګې ماڼې اوآسمان څکې برجونه ، بې پلانه ښارګوټي اوداسې نورې استهلاکي پروژې یې پرې جوړې کړې دي اوپایې په تړکې پرې پانګه اچونه کړې ده. افغان نوې دولت باید زیاته هڅه اوهاند وکړي چې له دې وروسته په هېواد کې د اداري فسادونو پرضد دمبارزې په برخوکې په دغه ډول غوښتنو کې له نړیوالو سره خپلو شویو ژمنو له دعمل جامه ورواغوندي اوپرمټ دي له هېواده دفاسدانو، فاسقانو اوغاصبانو تعریفي ټول کړي اوپرځای دې په پوره شفافیت او صداقت سره دهېواد داقتصادي اوامنیتي چارو دپرمخ بیولو له پاره دنړۍ دمرستندویو هېوادونو ددغه ډول پوځي اوانکشافي مرستو له کارولو اولګولو څخه کار واخلي اوپرمټ یې په هېواد کې دوامنیتي او اقتصادي ناخوالو اوناوړ ودونه دپای ټکی کېږدي اوپه دې توګه دې دهېوادونو عمرې بیخي وچې کړي او دنړیوالې ټولنې باور دې ورخپل کړي. نو هغه په نړیواله ټولنه نوره هم وهڅوله شي اودافغانستان دخلکو دژوندانه په امنیتي ، اقتصادي ، فرهنګي اونورو ډګرونوکې په خپلو مرستو ته دوام ورکړي اوپرمټ به یې افغانستان له هره پلوه پرخپلو پښو ودروي

## د مصطفی عمرزي په هاند او ((هڅود پور خرد))...

هرڅوک پرې پوهېږي خو د مقالې پیام دادي چې هر څوک دا مقوله په ځان باید عملي کړي لکه د مخه چې وویل شول دغه کتاب چې په بېلا بېلو اسلامي ، سیاسي ، اقتصادي او ادبي موضوعاتو د شیتو مقالو ترکیب دي هره مقاله یې دځانګړې بیان او پیغام درلودونکې ده چې د متن د اهمیت له پلوه ان ځینې داسې مقالې هم پکې شته چې د بنې اسرا

ئیلوغصه یې را پاروله او په ښاغلي ناصر پوریران یې نیوکه او ایراد کړی دی ، لوموړي په خپلو ټولو لیکنو او مقالو کې داسې لیکنه نلري چې د خپلو تر منځ د زینو مذهبي لسانې او ورته نورو تعصباتو څرک ترې ولګېږي دغه کتاب په ۲۸۲ مخونو کې په ښکلې صحافت د ښګا په خپرندویه موسسه کې د زرو ټوکو په تیراژ چاپ شوی دی یعقوب امین


قانون تدارکات علمه ومتحد المالها وبرای تمام داوطلبان واجد شرایط طوریکه در شرطنامه تعریف شده است راه اندازی خواهد شد
یک مجموعه مکمل شرطنامه به لسان دری توسط داوطلبان علاقمند ذریعه یک درخواست تحریری بعد از پرداخت یک مبلغ غیر قابل بازپرداخت

500 افغانی نقدا خواهد بود شرطنامه ها در روز داوطلبی که تاریخ وزمان دران مشخص می باشد درحضور داشت نماینده ګان داوطلبان وهیات موظف ګشوده خواهد شد افرهای دیررسیده رد خواهد شد
اسعد رهنمای ها سامانات وساکین تعمیر ها که

خواهش قرارداد انرا داشته باشند از نشر اعلان الی بیست ویک روز کاری جهت اخذ شرطنامه به مدیریت تدارکات معینیت تعلیمات تخنیکی ومسلکی واقع ده بوری عقب انستیتوت ملی موسیقی مراجعه نمایند تضمین افر در مجلس افرګشائی اخذ میګردد 5688

## اعلان داوطلبی وزارت اطلاعات وفرهنګ

به نسبت کمبود بودجه خریداری مقدار 257,726 لیتر تیل دیزل ومقدار 160,000 لیتر تیل پطرول مورد ضرورت وسایط ، بخاریهای مرکز و موسسات مربوطه، مرکز ګرمی تعمیر وزارت و ریاست آرشیف ملی بابت سال 1394 به شرح ذیل تعدیل صورت ګرفت

| شماره | ماده | موجود | تعدیل شده |
| --- | --- | --- | --- |
| تعدیل شماره 1 | | | |
| 1 | ماده 1.1 دستورالعمل برای داوطلبان | خریداری مقدار 257,726 تیل دیزل ومقدار 160,000 لیتر تیل پطرول | خریداری مقدار 120,000 لیتر تیل دیزل ومقدار 76,968 لیتر تیل پطرول |
| 2 | ماده 21.7 دستورالعمل برای داوطلبان | تضمین آفر مبلغ 1,120,000 یک ملیون و یکصدوبیست هزار افغانی | تضمین آفر مبلغ 680,000 شش صد هشتاد هزار افغانی |
| 3 | شرایط ارزیابی بعدی (بند2 مادهٔ 38 دستورالعمل برای داوطلبان) | (الف) توانایی مالی: داوطلبان باید صورت حساب بانکی را که نمایانګر سرمایه نقدی به ارزش (6,000,000) شش ملیون افغانی باشد، ارائه نمایند ) (ب) تجربه و ظرفیت تخنیکی: داوطلبان باید کاپی حجم کار کرده ګی خویش را به ارزش (44,000,000) چهل و چهار ملیون افغانی را که در یکی از پنج سال اخیر تکمیل کرده باشد، ارائه نماید (ج) داوطلبان باید حد اقل کاپی یک قرارداد مشابه به ارزش (24,000,000) بیست و چهار ملیون افغانی را که در یکی از پنج سال اخیر تکمیل کرده باشد، ارائه نماید | الف: توانایی مالی: داوطلبان باید صورت حساب بانکی را که نمایانګر سرمایه نقدی به ارزش (2740000) دو ملیونو هفت صدو چهل هزار افغانی باشد، ارائه نمایند ) (ب) تجربه و ظرفیت تخنیکی: داوطلبان باید کاپی حجم کار کرده ګی خویش را به ارزش (21,000,000) بیست یک ملیون افغانی را که در یکی از پنج سال اخیر تکمیل کرده باشد، ارائه نماید (ج) داوطلبان باید حد اقل کاپی یک قرارداد مشابه به ارزش (11,000,000) یازده ملیون افغانی را که در یکی از پنج سال اخیر تکمیل کرده باشد، ارائه نماید |

داوطلبان واجد شرایط تعدیل شماره 1 مکمل را از ادرس که قبلا نشر شده بود بدست آورده میتوانند

# افغان اعلانات

ایرول ګمرک میدان هوایی کابل نمبر 61565872225 به اسم شرکت ARAO مفقود ګردیده از اعتبار ساقط است

◆ ◆ ◆ ◆

اداره مرکزی احصائیه تعداد 54 قلم فرمائیه بابت (شایر تجهیزات دفتری مورد ضرورت خویش در سال 1394 قرارداد مینماید اشخاص اعم از دولتی وغیردولتی که خواهش قرارداد انرا داشته باشند درخواست های خویش را از نشر اعلان الی بیست ویک روز کاری بریاست مالی واداری واقع جاده مسعود بزرګ جوار هوتل اریانا متصل ارګانهای محلی بسپارند شرطنامه ولست مشخصات تسلیم داده میشود قیمت شرطنامه مبلغ 500 افغانی میباشد 5637

◆ ◆ ◆ ◆

اطلاعیه

وزارت احیآ و انکشاف دهات(MRRD)

برنامه ملي انکشاف صنایع روستائي

(AREDP)

برنامـه ملـي انکشاف صنایع روستائي

(AREDP) وزارت احیاء و انکشاف دهات یک مقدار وجوه مالي را از بانک جهاني غرض تطبیق پروژه هاي خویش بدست آورده و مصمم است تا یک قسمت از وجوه مالی بانک جهاني را غرض:

1 تهیه و خریداری 16,224 شانزده هزار و دو صد و بیست و چهار لیتر تیل دیزل برای دفتر ولایتی هرات،

2 تهیه و خریداری 10,946 ده هزار و نو صد و چهل و شش لیتر تیل دیزل برای دفتر ولایتی بلخ،

3 تهیه و خریداری 24,960 بیست و چهار هزار و نو صد و شصت لیتر تیل دیزل برای دفتر ولایتی ننګرهار،

4 تهیه و خریداری 9,840 نو هزار و هشت صد و چهل لیتر تیل دیزل براي دفتر ولایتی پروان.

با در نظر داشت روش تدارکاتی داوطلبی باز داخلی (National Open Tendering) عقد قرارداد و به مصرف برساند. ازینرو اسناد داوطلبی پروژه مذکور (Bidding Document) را در چهار بخش ترتیب نموده و ذریعه این اعلان به آګاهي تمام شرکت ها و موسسات خصوصی که در این راستا فعالیت داشته باشند میرساند تا براي اشتراک در داوطلبي اسناد مکمل آن را ازین اداره بدست بیاورند.

آخرین روز تسلیمي و آفرګشایی اسناد داوطلبي براي تهیه و خریداري تیل دیزل براي دفتر ولایتي هرات، بلخ و ننګرهار برنامه ملی انکشاف صنایع روستائی (AREDP) بتاریخ 01 فبروری سال 2015 که مطابق به 12 دلو سال 1393 ساعت 02:00 بعد از ظهر و جلسه قبل از آفرګشایی 21 جنوری 2015 مطابق به 01 دلو 1393 ساعت 02:00 بعد از ظهر تعین ګردیده

آفرګشایی اسناد داوطلبی و جلسه قبل از آفرګشایی در تالار جلسه دفتر مرکزی برنامه ملی انکشاف صنایع روستائي، وزارت احیاء و انکشاف دهات واقع سرک دارالامان، سرک تیلا باغ کابل افغانستان در اوقات فوق الذکر تعین ګردیده است

براي بدست آوردن معلومات بیشتر و اسناد مکمل داوطلبي میتوانید به آدرس ذیل مراجعه نماید و نیز اسناد مکمل داوطلبي را از ویب سایت وزارت احیاء و انکشاف دهات (www.mrrd.gov.af) و ویب سایت خدمات بازسازي و انکشافي افغانستان ( (www.ards.gov.af) بدست آورید

آدرس کابل

دیپارتمنت تهیه و تدارکات برنامه ملي انکشاف صنایع روستائي وزارت احیا و انکشاف دهات

ایمیل qais.aqaee@mrrd.gov.af

◆ ◆ ◆ ◆

قباله شرعی نمبر 2758/ 239 مورخ 1394/1/5 یک دربند حویلی واقع ده بوری سرای غزنی به اسم میرسیف الدین ولد میر صدر الدین مفقود ګردیده اعتبارساقط است

◆ ◆ ◆ ◆

پارکینګ وسایط شهری واقع پل ارتل سمت شرق پارک جدید تفریحی ساحه ناحیه سوم به اجاره داده میشود

مشتشین خصوصی واشخاص انفرادی که خواهش قرارداد انرا داشته باشند درخواست های خویش را بریاست عواید شاروالی کابل سپرده وخود شان ازنشر اعلان الی بیست ویک روز کاری مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده تضمین اخذ میګردد 5693

◆ ◆ ◆ ◆

یک جلد پاسپورت نمبر OA-11620151 به اسم ابراهیم ولد محمد اکبر مفقود ګردیده ازاعتبارساقط است

◆ ◆ ◆ ◆

ریاست معارف شهر کابل غرض تدریس شاګردان مکتب ابتدائیه دیوان بیګی به یک دربند حویلی که حداقل 21 اطاق ویا بیشتر از ان داشته باشد ضرورت دارد

اشخاصی که ساحه دیوان بیګی همچو تعمیر داشته باشند وطور کرایه بدهند درخواست های خویش را ازنشر اعلان الی بیست ویک روز کاری به مدیریت عمومی تهیه وتدارکات ریاست معارف

شهر کابل واقع سرای غزنی کارته چهار سپرده شرطنامه را ملاحظه نمایند 569[illegible]

◆ ◆ ◆ ◆

یک جلد پاسپورت کمپیوتری نمبر 00843154 به اسم محمد اشا زمان خیل ولد محمد نادر مفقودګردیده ازاعتبار ساقط است

◆ ◆ ◆ ◆

صبری لعند یکمراده موترنمبر 6428 شخصی خوست را خواهان تبدیلی پلیټ لوادی به رنګ نقرئی ګردیده

اشخاص وموسساتی که با موترمذکور معامله داشته باشند از نشر اعلان الی به مدت ده روز به مدیریت ترافیک خوست اطلاع دهند 758

◆ ◆ ◆ ◆

ریاست صحت عامه ولایت لوګر دربند حویلی رهایشی عبدالحبیب ولد محمد نور را ملحقه مبلغ 50000 افغانی برای مدت یکسال قرارداد مینماید اشخاصی که دارای چنین حویلی داشته باشند

وبکرایه کمتر بدهند درخواستهای خویش را به مدیریت خدمات ریاست صحت عامه ولایت لوګر بسپارند شرطنامه را ملاحظه تضمین اخذ میګردد وخود شان ازنشر اعلان ) روز غرض افرګشائی حاضر ګردند 567

◆ ◆ ◆ ◆

موضوع تدارک یک دربند حویلی دارای 25 الی 30 اطاق در مربوطات ناحیه سوم شهر کابل معینیت تعلیمات تخنیکی ومسلکی وزارت معارف یک دربند حویلی که دارای 25 الی 30 اطاق باشد درمربوطات ناحیه سوم شهر برای مدت یکسال مالی طور کرایه جهت لیلیه شاګردان لیلیه نسوان خویش طور قرارداد لازم است پروسه داوطلبی از طریق داوطلبی باز ملی طبق

(c) ketabton.com: The Digital Library


# هیواد

HEWAD DAILY

سیاسي - اقتصادي ورځپاڼه

چهارشنبه د ۱۳۹۳ ل د مرغومي ۳ مه د ۱۴۳۶ ق د ربیع الاول لومړی، د 24/12/2014


## په پروان کې د اوبو لګولو کانال بیا فعالیږي

[illegible]

## د افغانۍ پیر او پلور

پرون له غرمې مخکې د کابل په شهزاده سرای کې افغانۍ د بهرنیو اسعارو په وړاندې په دې ډول بدلیده

یو امریکایي ډالر پیرودل په 58/00 افغانیو پلورل په 58/10 افغانیو

یو انګلیسي پوند پیرودل په 90/00 افغانیو پلورل په 90/10 افغانیو

یو یورو پیرودل په 71/10 افغانیو پلورل په 71/20 افغانیو

یو سعودي ریال پیرودل په 15/45 افغانیو پلورل 15/50 افغانیو

د اماراتو یو درهم پیرودل په 15/85 افغانیو پلورل په 15/90 افغانیو

زر پاکستانۍ کلدارې پیرودل په 575 افغانیو پلورل په 576 افغانیو

زر هندۍ کلدارې پیرودل په 935 افغانیو پلورل په 940 افغانیو

او زر ایرانۍ تومانه پیرودل په 16/60 افغانیو پلورل په 16/70 افغانیو

## روی تعیین سرنوشت بخشی از زندانیان پلچرخی و توقیف خانه بگرام بحث شد

در جلسه مشترک نهادهای امنیتی و عدلی و قضایی که دیروز به ریاست معاون دوم ریاست جمهوری برگزار شد در باره تعیین سرنوشت بخشی از زندانیان در پل چرخی و توقیف خانه بگرام بحث شد. روز سه شنبه 2 جدی 1393 جلسه مشترک نهادهای امنیتی و عدلی و قضایی تحت ریاست قانونپوه سرور ها طی شده و مجازات لازمه نیز در مورد آن ها حکم کرده و مدت محکوم بهها را نیز سپری کرده اند، مطابق قانون از حبس رها شوند. در این جلسه در مورد توقیف خانه بگرام که به تازگی از سوی آمریکایی ها اداره آن به حکومت افغانستان سپرده شده است نیز پس از بحث های همه جانبه فیصله به عمل آمد

دانش معاون دوم ریاست جمهوری برگزار شد در مورد تعیین سرنوشت بخشی از زندانیان پل چرخی و هم چنین توقیف خانه بگرام که از سوی آمریکایی ها به حکومت افغانستان واگذار شده است بحث صورت گرفت و در هردو مورد فیصله های مشخصی به عمل آمد. در این نشست معاون دوم رییس جمهور در مورد این بخش از زندانیان پل چرخی که مرتکب جرایم امنیتی شده اند اظهار داشت بخشی از زندانیان که هم اکنون در زندان پل چرخی وجود دارند باید هر چه عاجل در مورد آن ها رسیدگی لازم صورت گرفته و به قضایا خاتمه داده شود. وی افزود مهم ترین بخش از این افراد کسانی هستند که مشمول فرمان عفو شماره 62 رییس جمهور سابق شده اند ولی نهادهای امنیتی و هم چنین څارنوالی ملاحظات جدی در مورد آن ها دارند که باید این ملاحظات در مورد آن ها مد نظر قرار گیرد. پس از بحث و بررسی های همه جانبه و اظهارات اعضای جلسه فیصله به عمل آمد که در این مورد ملاحظات څارنوالی و نیز ملاحظات نهادهای امنیتی در باره هر فرد از کسانی که در چنین حالتی قرار دارند، مستند گردیده و دو باره به ریاست جمهوری ارایه گردد. هم چنین فیصله شد که به روند رسیدگی در مورد افراد دیگری که مرتکب جرایم امنیتی شده اند نیز که هم اکنون دوسیه آنها در محاکم ابتداییه و استیناف تحت دوران قرار دارند، سرعت بخشیده شود. هم چنین در جلسه فیصله به عمل آمد کسانی که تمام مراحل قضایی آن

تا این توقیف خانه هم چنان به فعالیت خود ادامه داده و در اختیار وزارت دفاع ملی باشد و بلاک خاص پل چرخی که تا کنون در اختیار وزارت دفاع ملی بوده است مطابق قانون به وزارت داخله سپرده شود. هم چنین فیصله شد تا در مورد تعامل میان نهادهای امنیتی در مورد روند کاری توقیف خانه بگرام میان وزارت دفاع و وزارت داخله یک پروتوکل رسمی جهت قانونمند شدن اداره این توقیف خانه صورت گیرد. بر اساس یک خبر دیگر، به منظور بررسی وضعیت حقوقی مرکز ملی آموزش های حقوقی، امروز جلسهٔ به ریاست قانونپوه سرور دانش معاون دوم رییس جمهور و با شرکت مسوولان ستره محکمه، لوی څارنوالی، وزارت عدلیه، انجمن مستقل وکلای مدافع، نماینده آن مرکز و سایر ادارات برگزار شد. معاون رییس جمهور گفت: هدف از بررسی وضعیت حقوقی این مرکز، بهبود امور قضایی، توسعه فعالیت این مرکز برای آموزش حقوقی به قضات، سارنوالان و وکلای مدافع می باشد که ایجاب می کند در جهت توحید آموزش های لازم حقوقی و مسلکی، تدبیر لازم روی دست گرفته شود. اعضای جلسه نظریات خویش را در مورد وضعیت حقوقی مرکز یاد شده، توحید برنامهٔ سلاز و مدیریت مرکز ملی آموزش های حقوقی ابراز داشته و فیصله شد تا جلسه برای بحث و بررسی بیشتر با حضور نمایندگان ادارات ذیربط تحت ریاست سرپرست ستره محکمه برگزار شده و نتایج آن به معاون دوم رییس جمهور گزارش داده شود.

## د افغان ځواکونو ترمنځ مطلقه...

ښځه کار واخلو. خو موږ د هوایي ملاتړ له اړخه ستونزه لرو » له دې وړاندې ولسمشر محمد اشرف غني او د دفاع وزارت مقاماتو هم د امنیتي ارګانونو ترمنځ د همغږۍ نه موجودیت منلی و. افغان حکومت هم په دې باور دی چې د افغانستان په امنیتي ارګانونو کې ظرفیتونه شته، خو لازمه همغږي نه ده موجوده. کارپوهان همدې موضوع ته په اشارې سره وایي ؛ که د امنیتي ارګانونو ترمنځ د پام وړ همغږي موجوده وي او د استخباراتي معلوماتو په اړه په خپل وخت سره اقدام وشي، نو تر ډېره به د وسلوالو مخالفینو د تروریستي او ډله ییزو حملو مخه ونیول شي.

## ‹‹د امنیت او ثبات د ټینګښت لپاره دې غوښ ګامونه...

او په دې لاره کې د یو پروګرام د ترلو یادونه وکړه او زیاته یې کړه چې په دې لاره کې د خلکو د همکارۍ رول ډېر رغنده او اغیزمن دی. وروسته د ۲۰۹ شاهین او د ۲۰۷ ظفر قول اردوګانو قوماندانانو د خپلو روانو ستونزو او ننګړتیاوو ته په اشارې او د بادغیس، فاریاب، جوزجان او د سرپل د ولایتونو د امنیتي حالاتو په باب د معلوماتو په وړاندې کولو سره خپلې نظریې او پیشنهادونه غونډې ته وړاندې کړل او مطروحه مواردو ته یې د زیات دقت او پاملرنې غوښتنه وکړه. دوی د مواصلاتي لارو د پرانستلو، هیواد له ګاونډیو هیوادونو خخه د بریښنا د لیږدولو د مزو د امنیت د تامینولو په اړوند د جمهوري ریاست لومړي مرستیال ته ډاډ ورکړ. په دې غونډه کې دغه راز د ملي دفاع او د کورنیو چارو د وزارتونو او د ملي امنیت د لوی ریاست سرپرستانو له دغه پروګرام څخه د خپل ملاتړ په ترڅ کې د اوامرو د اجرا کولو په لاره کې تیاری ښکاره کړ. د غونډې په پای کې د جمهوري ریاست لومړي مرستیال د دغې طرحې د ارزښت او تطبیق په باب د ټینګار په ترڅ کې څرګنده کړه چې د دغه پروګرام په عملي تطبیق سره به په شمال کې له دولت څخه د ملاتړ بهیر زیات شي او تر څه په دغو سیمو کې د ښو پایلو شاهده وو. غونډې وټاکله چې ټول امنیتي مرکزونه دې سر له سبا څخه د ملي دفاع په وزارت کې د دغه کار د تحقق لپاره په خپلو کارونو پیل وکړي او شریک یې کړي.

باختر

## برنامه معرفت باپولیس ازسوي...

کنر یک توطیه بزرگ از سوی دشمنان این کشور بود که تروریستان درمقابل نیروهای امنیتی ها ناکام ماندند. لیلما احمدي عضو مجلس سنا و محمد احسان ضیا فعال جامعه مدني نیز درصحبت هاي شان از توانایي و شجاعت پولیس ملي صحبت نموده و برنامه معرفت با پولیس را یک اقدام نیک تلقي کردند. دراخیر مدال صلح براي پدر میرافغان افسر که چند روز قبل مانع یک انتحاري درکابل شد و به پدر محمد مصطفي تفویض شد. برنامه معرفت با پولیس براي چهار روز درنظر گرفته شده در خلال این چهارروز برنامه هاي با شرکت فعالان جامعه مدني مردم عوام نمایندگان در شوراي ملي و اهل رساله ها برگزار خواهد شد که درآن تاثیر پذیري پولیس برجامعه مسایل حقوقي و کارنامه هاي پولیس بحث خواهد شد. باختر

## نړیوالو ورځپاڼو ته کتنه

## ایا پاکستان به د طالبانو پرضد راپورته شي؟

انګلستان چاپ، ابزرور Observer ورځپاڼې ؛؛ ایا پاکستان به وکړای شي چې د پېښور له پېښې وروسته د طالبانو پر ضد راپورته شي؟ ؛؛ تر سرلیک لاندې یو مطلب خپور کړی او په یوه برخه کې یې د دیني عالمانو پرضد چې د وسله والو له خوا د خلکو په وړلو پېرزو والی ښکاره کړی او څرګنده کړې ده. دغه ورځپاڼه لیکي: دا ګړه هم چې په پاکستان کې د دیني عالمانو پر ضد اعتراضونه سابقه نه لري، خو دا به و لیدل شي چې د پاکستان دولت څومره تیار دی چې د خلکو دا قهر او غوسه په یوه بدلون یا عمل بدل کړي. ابزرور زیاتوي، د پیس بوک په یوه پاڼه کې چې د پنجاب ایالت یوه پولیس رحیم پارخان ته یې نسبت کېږي، په ټیټو ټکو او جملو کې یې د طالبانو ملاتړو په ډېرو بدو الفاظو یاد کړي دي. په اسلام اباد کې اعتراض کوونکي، د لعل مسجد مخې ته راټول شول او دا هغه ځای دی چې د پاکستان پوځ او ملایانو په کې په ۲۰۰۷ م کال کې په دغه جوماټ کې د ګڼ شمېر شوي طالبانو په وینو ډېر خلیونه ولړل او په جوماټ یې خوړلي بریدونه سره کړل. اعتراض کوونکو غوښتل چې د مسجد امام مولانا عبدالعزیز باید په پېښور کې په یوه ښوونځي کې د طالبانو له خوا ډله ییزه وژنه وغندي.

ابزرور وړاندې لیکي: په پاکستان د ښم قضا خبره ده. د چهارشنبې په ورځ د پېښورې پېښې په اړه د لویو طالبانو د راپورته کېدو له امله تورېخالفتونه هم راپورته شول او د قهر یوه داسې فضا رامنځ ته شوې چې په ۲۰۰۷ میلادي کال کې د پخواني صدراعظمې بې نظیربوټو له ترور وروسته هم خلکو په دې اندازه په قهر او انزجار کې نه وو. ورځپاڼه زیاتوي، د نورو دیني عالمانو او ملایانو په ډله کې د لعل مسجد د امام مولانا عبدالعزیز پرضد هم خلکو شعارونه ورکړل او خلکو نور د دې زغم نه لري چې دا ټول دیني عالمان د

ورځپاڼه لیکي: حقیقي او ریښتني ځواب نه دی. په پاکستان کې د دیني عالمانو پرضد له روانو اعتراضونو سره سره، د پاکستان دولت ته ښوونځي د خلکو دا غوسه د یوه بدلون او یا عمل پر لور لیږدولو ته برابره کړي. فارین افیرز Foreign Affairs خپرونې هم د طالبانو او پښتو پالو پرضد د پاکستان د دولت د نه عمل په اړه یو مضمون خپور کړی او د پېښور او چې هلکت یو شمېر یې چاپ کړی. چې پوځي ښوونځي په سر کې او د پېښور د ښوونځي بهرونو ښوونکو ته په ویرزاړي او اوښکي توږولي. خپرونه لیکي: د پېښور د ښوونځي پېښه د لرلي ځیرانتیا مسئله هم نه ده. د تحریک طالبان پاکستان یوه ډلې فیصل شهزاد د ۲۰۱۰ م کال په پسرلي کې د نیویارک ښار ټایمز سکویر کې د بمي چاودنې پلان جوړ کړی و له دې پېښې مخکې خو اوولس

طالبانو او پښتو پالو دلو د وژلو په اړه چوپه خوله وي او په دې اړه یې نه غندي. ابزرور ورځپاڼه د تحلیل په یوه برخه کې لیکي: په داسې یو حالت کې چې دا مهال په پاکستان کې رامنځ ته شوی، پوښتنه پیدا کېږي چې ایا د پښتو پالو وسله والو پرضد به په یوه ګډ عمل توافق وشي؟

وروسته تحریک طالبان پاکستان ډلې په لاهور کې د جمعې په لمانځه کې د احمدي فرقې ۸۴ لمونځ کوونکي قتل عام کړل. خپرونه زیاتوي، د دې او نورو زیاتو تیروتنو او ګواښونو سره سره، د پاکستان دولت د تحریک طالبان د ډلې د له منځه وړلو لپاره هیڅ نه دي کړي.

ورځپاڼه لیکي: خو اوولس وړاندې په پاکستان کې د دغه حالت تصورهم نه کېده، خو د پېښور په یوه ښوونځي کې له ډله ییزې وژنې وروسته دا حالت رامنځ ته شوی دی.

## له ۲۰۱۴ وروسته امریکا خپل سري عملیات...

په دې وروستیو کې د امریکا د دفاع وزارت چارواکو ویلي، چې یوازې هغه طالبان به په نښه کوي، چې دوی او افغان ځواکونو ته ګواښ وي. د امریکا د دفاع وزارت ویاند جان کربي ویلي، که چېرې د طالبانو مشرملامحمد عمرهم دوی ته ګواښ پېښ نه کړي، نو دوی یې هدف نه ګرځوي. جان کربي ویلي، طالبان په دوو برخو ویشل شوي، چې، جنګي او غیرجنګي ډلې دي. ده وویل، هغوی چې پرموږ حملې کوي، موږ به یې هم نه پرېږدو، خو هغوی چې جنګ نه کوي، موږ هم ورسره کار نه لرو. تردې مخکې نورو امریکایي چارواکو هم دې ته ورته څرګندونې کړې وې، خو د امریکا ولسمشر بارک اوباما ویلي و چې په افغانستان کې پاتې کېدونکي امریکایي پوځیان به پرخو وسله والو طالبانو بریدونو ته دوام ورکړي چې پرافغان امنیتي ځواکونو حملې کوي. په ورته وخت کې بیا په ولسي جرګه کې د نړیوالو اړیکو کمېسیون وایي، امریکا د افغان ولس ګټو ته ژمنه ده، دوی وایي امریکا په افغانستان کې هغه اهداف چې غوښتل یې ترلاسه کړي. ددغه کمېسیون رییس عبدالقادر خالقي وایي، امریکا باید ټول هغه وسله وال یې تورپېره په نښه کړي چې د افغان حکومت پر وړاندې امنیتي ستونزې جوړه وي ؛؛کله چې د امریکا شخصي ګټې په خطر کې وي نو افغانستان له راتلو او وېل چې موږ تولنو ته خطر متوجې دي او وېل به یې چې له وسله والو سره باید جګړه وشي اوس یې چې شخصي ګټې په کې لشته دوی وایي چې خپلې طالبان زموږ دښمنان نه دي دا په دې معنی چې دوی اول او اوس هم له افغانانو سره دوه مخې سیاست کوي.؛؛ امریکا غواړي چې په افغانستان کې ۱۰۸۰۰ پوځیان پرېږدي ،چې افغان امنیتي ځواکونو ته روزنه او مشورې ورکړي. د سیاسي چارو یو شمېر افغان کارپوهان سپارښتنه کوي چې امریکا باید له افغانستان سره د امنیتي او دفاع سند په اساس خپل مسوولیت ادا کړي. دوی وایي، امریکایي چارواکي باید له خپلو ژمنو سره سم افغان ځواکونه وروزي او د دې ځواکونو تجهیزاتو ته هم پام وکړي.

## د افغان ځواکونو، تجهیز د روزنې په پرتله...

له لو ورځو راهیسې د مخالفینو او افغان ځواکونو ترمنځ جګړه روانه ده. موریس یو ځیمز د پکتیکا د یحیی خیلو او د پېښور د پوځ پر یوه ښوونځي وروستیو حملو ته په اشارې وایي، چې د تروریزم د ځپلو لپاره د افغانستان او پاکستان همکارۍ ډېره مهمه ده.: "د ملي وحدت نوی حکومت له ګاونډیو هیوادونو سره د معاملو په بهیر پیل کړی دی، د پکتیکا او پېښور وروستیو خونړیو پېښو له په کتلو افغانستان او پاکستان باید یو د بل په وړاندې د تورونو د لګولو لوبه پای ته ورسوي، دې پېښو ته په کتو باید دواړه هیوادونه مخکې ولاړ شي، زما په ګومان دواړه هیوادونه اوس د پخوا په پرتله یو له بل سره نږدې شوي". د افغان امنیتي ځواکونو د تجهیز زمنې له دې وړاندې امریکایي چارواکو هم کړې او د افغانستان دفاع وزارت د هوایي ځواک کمښت د امنیتي ځواکونو مهمه خلا بللې ده. خبرونکي وایي، که چېرې امریکا او ناټو په دې برخه کې کړې ژمنې ژرعملي نه کړي، له ۲۰۱۲ کال وروسته به د افغانستان د سرحدونو بشپړه دفاع افغان ځواکونو ته سخته وي.

## یو انس سره زر په ۱۱۷۸ ډالره وړاندې کیږي

په نړیوالو بازارونو کې پرون یو انس سره زر په ۱۱۷۸ ډالره وړاندې شول. د پښتني بانک د سرو زرو د مارکیټ یوه پلورونکي قاهرخان دغه خبر ته تایید لو سره وویل اوس د کابل په بازارونو کې یو ګرام مصري سره زر په ۲۳۵۰ افغانیو، کویتي په ۲۲۰۰ افغانیو، سنګاپوري په ۱۶۵۰ افغانیو او یو ګرام په ۲۳۰۰ افغانیو، بحریني په ۲۰۰۰ افغانیو، عربي په ۱۹۰۰ افغانیو، ایراني روسي سره زر په ۱۴۵۰ افغانیو پلورل کېدل.

باختر

## بهرنۍ لنډې خبرونه

### په شمالي کوریا کې انټرنیټ ته لاسرسی بیا پیدا شو

په شمالي کوریا کې انټرنیټي خدمتونه په بشپړه توګه دریدلي حالت ولې او انټرنیټ ته یو ځل لاسرسی پیدا شوی دی. یوه امریکایي کارپوه هم ویلي، چې په شمالي کوریا کې تر څو ساعتونو انټرنیټي بریې کېدو وروسته اوس تر یوه حده انټرنیټ فعال شوی دی. په شمالي کوریا کې انټرنیټ ته لاسرسی په بشپړه توګه قطع شوی و. انټرنیټ ته لاسرسی خو ورځې وروسته تر هغه غوڅ شوی، چې امریکا پر پیونګ یانګ تور پورې کړ، چې پر امریکایي سوني پیکچرز شرکت یې انټرنیټي بریدونه کړي دي. د امریکا ولسمشر بارک اوباما دغه برید پروړاندې د مناسب غبرګون ښودلو ژمنه کړې وه. خو امریکایي چارواکو په شمالي کوریا کې د انټرنیټي خدمتونو د قطع کېدو په چاره کې د امریکا د احتمالي دخالت په اړه نه څه ویلو ډډه کړې ده. د ټکنالوژۍ په برخه کې ستونزې یا انټرنیټي برید په شمالي کوریا کې د انټرنیټ د قطعه کېدو لامل ګرځېدای شي.

### چین هم انټرنیټي بریدونه غندي

چین د هالیووډ فلمونو د جوړولو پر ستوډیو «سوني پکچرز» د «هیکر» یا انټرنیټي بریدونو له پېښو سره سره انټرنیټي بریدونه غندلي دي. د امریکا د بهرنیو چارو له وزیر جان کیري سره د خبرو پر مهال د هغه چینایي سیال وانګ یي وویل چې هیواد یې د انټرنیټي حملو او انټرنیټي ترهګرۍ هر ډول غندنه کوي. خو په دې بیانیه کې د شمالي کوریا یادونه نه ده شوې. امریکا د دغو هیکرانو د دغه برید او د امریکا پر سینماګانو د بریدونو تر ګواښونو وروسته د هغه فلم له بڼکاره کولو څخه ډډه وکړه چې پکې د امریکا د استخباراتي شبکې «سي آي اې» ژورنالیستانو ته ګومارل کېږي چې د شمالي کوریا واکمن کم یونګ اون ووژني. شمالي کوریا د دغه انټرنیټي برید مسوولیت نه منې او د غچ اخیستو ګواښ یې کړی برید پر شمالي کوریا چولي او د «نیویارک ټایمز» په حواله له چینه یې مرسته غوښتې ده ویل شوي چې له چین سره همکاري مهمه ده خکه د شمالي کوریا ټولې مخابراتي اړیکې د چینایي شبکو له لارې تېرېږي «سوني پکچرز».

### کردان په عراق کې د پرمختګ په حال کې دي

د عراق په شمال کې له «اسلامي دولت» ډلې سره د جګړې په ترڅ کې کردي ځواکونه د سنجار ښار چې له ستراتیژیکي پلوه ډېر مهم دی، د بېرته نیولو په حال کې دي. د کردانو مشر مسعود بارزاني د دغې سیمې د لیدنې پرمهال وویل چې دوی د سنجار زیاتره سیمه نیولې ده. د هغه په خبره د «اسلامي دولت» ډلې پر ضد د نړیوال ائتلاف له خوا ملاتړ خپله اغېزه ښودلې او بریاوې یې لرلې. د امریکا هوایي ځواکونه له څو میاشتو راهیسې د اسلامي دولت ډلې پر مورچلونو بمباري کوي

### الباجي قائد السبسي د تونس ولسمشر شو

د تونس د ټاکنو عالي کمېسیون اعلام وکړ، چې الباجي قائد السبسي د تونس ولسمشرۍ ټاکنې وګټلې. د «نداء تونس» دغه مشر د ټول ټال رایو ۵۵،۶۸ سلنه وګټلې. د «النهضت» ګوند مشر راشد الغنوشي السبسي ته د بریا مبارکي ویلې ده. د السبسي ټاکنیز سیال او مخکني لنډمهالي ولسمشر منصف المرزوقي په هیواد کې له ناورینخوالي د ډډې کولو غوښتنه کړې ده په تونس کې د ولسمشرۍ ټاکنو ددویم پړاو رای اچونې تر بهیر وروسته، السبسي په ټاکنو کې د ځان د بریالیتوب اعلان وکړ. خو ټاکنیز سیال منصف المرزوقي وایي، تر اوسه رسمي پایلې لا نه دي اعلام شوي. د تونس د ټاکنو کمېسیون له خپلو ګټلي، خو لاهم د رای شمېرنې بهیر روان دی او وروستۍ رسمي پایلې تر اوسه نه دي اعلام شوي. دغه کمېسیون دا هم ویلي، چې په دویم پړاو ټاکنو کې د خلکو ګډون ډېر و په تونس کې وګړي د ولسمشرۍ ټاکنو لپاره په دویم پړاو ټاکنو کې رایې اچوي. جرګه ګیو راټولې خبرونه وایي، السبسي ۵۴ سلنه رایې ګټلې چې دا د دغه هیواد په تاریخ کې لومړۍ دیموکراتیکې ټاکنې ګڼل کېږي په روانو ټاکنو کې نږدې ۵،۳ میلیونه تونسي وګړي د رای اچونې حق لري.

### ایران په کورونو کې د بهرنیو مېرمنو کارکول ممنوع دي

د ایران د کار او ټولنیزو چارو وزارت ویلي، د استوګنې په کورونو کې د بهرنیو مېرمنو، په تېره بیا د فلیپیني ښځینه خدمتګارانو کار کول ناقانونه عمل دی. ددغه وزارت د بهرنیو وګړو په کار ګومارلو مدیر علي اقبالي ویلي، په ایران کې فلیپیني یا د نورو هیوادنو مېرمنو ته د کار اجازه نه ده ورکړل شوې او وایي ؛؛که په کورونو کې د خدمې په عنوان پر کار وګومارلې شي، له سرغړونکو سره به قانوني چلند وشي ؛؛ نوموړي خبرداری ورکړ، هغه کسان چې بهرنۍ مېرمنې په کورونو کې په کار وګوماري قضایي مراجعو ته به معرفي شي. د بهرنیو وګړو په کار ګومارلو مدیر دا څرګنده کړه چې د بیا بیا تکرار په ترڅ کې به هغه کسان چې بهرنۍ مېرمنې په کورونو کې په کارګوماري له ۹۱ تر ۱۸۰ ورځو پورې زنداني شي. فلیپیني چارواکي اټکل کوي چې شاوخوا ۲ میلیونه وګړي یې په منځني ختیځ کې په کار بوخت دي.

له بهرنیو منابعو څخه


Dr : Shamsulhaq Aryanfar, Head of Govt. Dailies

Editor -in-chief: Ahmad Zalmai Shahbaz
0700078578

Deputy: Shah Wali "Qarar"

د ورځپاڼې د وېش څانګه
۰۷۰۰۷۹۶۰۱۷۱ ۰۲۰۲۲۰۰۳۳۷

چاپځای د آزادۍ مطبعه

کتونکې ډله

- سیدیوسف "شریفي"
- محمد صادق قلندري
- میر مسجدي عزیزي
- اصغر ښې

| | |
|---|---|
| دورځپانو رئیس دکتورشمس الحق آریان فر | ۰۷۹۹۳۲۵۸۵۰ |
| آمر او مسوول مدیر احمد زلمی شهباز | ۰۷۰۰۰۷۸۵۷۸ ۰۲۰۲۳۰۲۱۳۰ |
| مرستیال شاولي قرار | ۰۷۹۹۳۱۴۵۰۶ ۰۲۰۲۳۰۲۱۲۹ |
| سرپرست مسوول سکرتر شیرمحمد نظری | ۰۷۷۲۰۳۶۷۱۵ |
| ویراین احسان شاه یحی | ۰۷۹۹۵۶۶۲۸۵ |

برېښنالیک hewad1948@yahoo.com

د ورځپانو ویب سایت www.dailies.gov.af

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**